


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دپیسو سیاستونه

www.melitahrik.com
0777 400 116

محمد داود نیازی

۱۳۹۳ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

د اسلاميت او افغانيت ستر داعي پوهنوال محمد اسمعيل يون ته!

م.د. نيازی

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ځانګړنې :

د کتاب نوم: د پیسو سیاستونه
لیـــــکوال :پوهندوی سید مسعود
ژباړن : محمد داود نیازی
بریښلیک:dawood۱۹۱۹@gmail.com
اړیکه:۰۰۹۳۷۷۸۸۷۸۳۴۹
پښتنې ډیزان: فیاض حمید
چاپشمېر:
چاپ ځل: لومړی
چاپ نېټه: ۱۳۹۳

www.melltahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



فهرست

لومړی ټکی ........................................................................ ۸

پېژندنه ........................................................................ ۱۱

۱: د پیسو د ارزښت ساتل :........................................................................ ۱۲

د تادیاتو بیلانس ........................................................................ ۱٤

د پیسو ریفورم ........................................................................ ۱٦

د مطلوبو قیمتونو سطحه : ........................................................................ ۱۸

د قیمتونو د جګوالي پیسیز (پولي ) سببونه ........................................................................ ۲۵

د قیمتونو د لوړوالي توکیز سببونه ........................................................................ ۲۷

دجوړښت له کبله د قیمتونو لوړوالي ........................................................................ ۲۸

د قیمت د لوړوالي رواني سببونه ........................................................................ ۲۸

د قیمت دلوړوالي د مخنیوي لارې ګودرې ........................................................................ ۲۹

د پیسو بازار ته د سیاستوال ورتګ........................................................................ ۳۱

د پیسو له وسایلو ښه ګټه پورته کونه........................................................................ ۳۵

د پیسو د سیاست لپاره اړین اصطلاحات ........................................................................ ۳۸

د برېښنايي پیسو په توګه د تبادلې د وسایلو ډولونه :........................................................................ ٤۷

دویم څپرکی ........................................................................ ٤۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پيسو د سياست په وړاندې پوښتنې........................................ ٤٩
درېيم څپرکی........................................................................ ٥٧
د پيسو په مديريت کې د پيسو قوانين ......................................... ٥٧
لومړی قانون : د ډېربښت قانون................................................ ٥٧
دويم قانون : د تبادلې قانون .................................................... ٥٨
درېيم قانون :د پانگې قانون...................................................... ٦٠
څلورم قانون : د وخت د تنظيم قانون........................................... ٦٢
پنځم قانون : سپما ............................................................. ٦٥
شپږم قانون : مال ساتنه ...................................................... ٦٦
اووم قانون پارکينسون :......................................................... ٦٨
اتم قانون :د درېو قانون.......................................................... ٧٠
نهم قانون : د پانگونې قانون ................................................... ٧٢
لسم قانون : مرکبه گټه.......................................................... ٧٥
يوولسم قانون : د توکو راتېولول .............................................. ٧٨
دوولسم قانون : مقناطيسي قانون............................................... ٧٩
ديارلسم قانون : تېزوالي قانون ................................................ ٨٢
څلورم څپرکی ..................................................................... ٨٣

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیسو د سیاست وسایل ........................................................ ۸۳
د ازاد بازار یا د مارکېټ سیاست ........................................................ ۸٤
د زېرمو سیاست ........................................................ ۸۹
اسعاري سیاست ........................................................ ۹۳
د تنزیل او بیا تنزیل سیاست ........................................................ ۹٦
د ارزښت لرونکو سندونو د رهني (ګروي )سیاست ........................................................ ۱۰۰
سامویلسن له نظره د پیسو د سیاست وسایل ........................................................ ۱۰۱
پنځم څپرکی ........................................................ ۱۰٦
د پیسو د سیاستونو دایره ........................................................ ۱۰٦
اخري خبره ........................................................ ۱۱٤

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تحريك يادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحريك له اساسي څانګو څخه يوه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي كارونه ترسره كړي. د تاريخي، ملي، كلتوري ورځو او تاريخي او ملي شخصيتونو نمانځل ددې څانګې نورې دندې دي.

د هېواد د ليكوالو د علمي، ديني، روزنيزو او معلوماتي اثارو چاپ هم ددې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل كېږي. له هغې ورځې راهيسې چې تحريك خپل عملي فعاليتونه پيل كړي دي، نو دې څانګې هم ورسره سم خپل فعاليتونه چټك كړي دي. تاريخي ورځې يې نمانځلي، تاريخي واټونو ته يې لوحې جوړې كړي. علمي سيمينارونه او وركشاپونه يې جوړ كړي دي.

د تحريك دې څانګې د تحريك د عمومي هدفونو په رڼا كې وټپيله چې په يوځايي ډول (شل عنوانه) كتابونه چاپ كړي. په دې اثارو كې اكثره ديني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته يې وړاندې كوي.

دا اثر (د پيسو سياستونه) چې ستاسو په لاس كې دی، ښاغلي (محمد داود نيازي) ژباړلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هيله ده درانه لوستونكي ترې ښه ګټه پورته كړي. تحريك خپلو هېوادوالو ته ډاډ وركوي چې په راتلونكي كې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام وركړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاينې په هيله
په درناوي
د افغانستان ملي تحريك
فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی ټکی

دا لیکنه چې تاسو اوس ورسره بلد پرېږئ او ستاسو د فکرونو وخت نیونکې ده،په څو برخو ولیکل شوه او نوي فکرونه یې رامنځته کړل،په ډېرو مواردو کې مې په خوښه کې نوښت راغلو تر دې چې په ډېرې خوښۍ سره مې ادامه ورکړهاو خپل انداونه مې په خپل نفس زورور کړل.دالیکنه مې په پنځو څپرکیو کې بشپړه کړې چې څپرکي د برخو په وېشلو سره پخپله بېل شوي .لومړی څپرکی د تعریف څخه پیل دتجزیې د طریقې له لارې د پیسو ټرمنالوژی، د پیسو پېژندنه او د پیسو زېږېدنه بیان شوې ده. وروسته مې د پیسو د پیسیز تحلیل لپاره کام کېښود په لومړي ځل مې د پیسوپه سیاستونو کې د سواټ او پیست له میتودونو په ګټه وره توګه کار واخیست .
په دې اثر کې هڅه شوې چې د یو سیاستوال د کار د پیل تدابیر توضیح شي تر څو سیاستوال پوه شي چې له کوم ځایه پیل وکړي . نو له دې کبله د سیاستوال لپاره شپږ پوښتنې طرحه شوي .د پالیسو دایره د لومړي ځل لپاره زده کوونکو او محصلینو ته وړاندې شوې او دوه ډوله لارې مو ښودلې چې دواړه له نویو او دود لارو څخه ګټل کیږي .دا اثر په ځان کې لومړي او اخري ټکي لري او هرڅه مو چې په دې بحث کې څېړلي د کتاب په سر کې یې مطالعه کړئ .هیله لرم ټول همدا دي چې تاسو ته یې لیکم زما دا ناچیزه هڅه ومنئ.

زه له ټولو سره مینه لرم خو له خپلواکۍ سره ډېره .

پوهندوی سید مسعود

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژباړن خبرې

د پیسو سیاستونو تر عنوان لاندې اثر د ښاغلي استاد پوهندوی سید مسعود دی. په دې کتاب کې د پیسو اړوند ډیر مهم مسایل څیړل شوي دي . انسان د خپل ژوند په لومړی مرحله کې ډیرې اړتیاوې نه لرلې ،ژوند یې تر ډیره بریده په ځان بسیا وو خو کله چې د انسان ذهن پرمختګ وکړو ورسره یې اړتیاوې هم ډیرې شوې،د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د توکو تبادلې ته اړ شو چې د انسان بیلا بیلې اړتیاوې یې پوره کولې په لومړي سر کې انسان د توکو تبادلې لپاره له بیلا بیلو وسایلو کار واخیستل شو چې خپلې ستونزې یې لرلې . خو کله چې انسان په دې وتواندو چې د توکو د تبادلې لپاره یو معیار پیدا کړي نو د انسان اقتصادي ژوند وسره ډیر پرمختګ وکړو ،انسان یې د پرمختګ پولو ته ورساوو ،نړۍ د یو کلي بنه غوره کړه د انسان اقتصادي ژوند یې ډیر اسان کړو چې دا معیار د پیسو په نامه یادیږي . په دې کتاب کې د پیسو ډیرو مهمو مسایلو ته اشاره شوی او د پیسو مسایل یې په ډیره ښه بڼه روښانه کړي .ما هم د کتاب او د پیسو د پورتني ارزښت په پام کې نیولو سره وغوښتل څو د ښاغلي استاد پوهندوی سید مسعود دا اثر پښتو ژبې ته وژباړم ،له ښاغلي استاد پوهندوی سید مسعود څخه ډیره مننه کوم چې په یوه ټیلفون یې ماته د کتاب د ژباړې اجازه راکړه، الله تعالی ورته ډیر عمر وکړي کور یې ودان .په پای د ننګرهار پوهنتون استاد ښاغلي عبدالرحمان درد څخه هم نړۍ مننه کوم چې د کتاب د پښتو ژبې په سمون کې له ماسره مرسته کړې. همدرانګه له ټولو لوستونکو څخه هیله کوم که په دې ژباړه کې له ما څخه کومه تیروتنه شوي هیله ده ببننه راته وکړي .د اباد ، خوشاله او لوی افغانستان په هیله .

محمد داود نیازی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## لومړی برخه

### پېژندنه

د پیسو سیاستونه له یو شمېر هغه تدابیرو او اقداماتو څخه عبارت دي چې د ځانګړو اقتصادي موخو(د پیسو د ارزښت ثبات،د مطلوبه قیمت کچه،د تولیز تولید او تولیزو پیسو ترمنځ تعادل،د تولیزې عرضې او تولیزې تقاضا تر منځ د مطلوبې فضا رامنځته کول،له پیسیزو وسایلو ښه ګټه پورته کول) د لاسته راوړلو لپاره تر سره کېږي . په پورتنۍ پېژندنه کې لاندې ټکو ته اشاره شوې ده :

- د پیسو د ارزښت ثبات
- د مطلوبه قیمت کچه
- د تولیز تولید او تولیزو پیسو ترمنځ تعادل رامنځته کول
- د تولیزې عرضې او تولیزې تقاضا تر منځ د مطلوبې فضا رامنځته کول
- له پیسیزو وسایلو ښه ګټه پورته کول

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیسو سیاست د یوې وسیلې په توګه د هېواد د چارواکواویا موسساتو په واك کې وي چې د دولت له خوا د قانون پر اساس د دندې په توګه ترسره کیږي .

د پیسو سیاست د نورو علومو په څېر د ځانګړو موخو د ترلاسه کولو لپاره طرحه کیږي. د پیسو سیاست د یوې ځواکمنې ستراتیژۍ په جوړولو کې موږ ته لار ښونه هم کولای شي.د پیسو د سیاست موخې په لاندې ډول طبقه بندي کوو:

- د استخدام د سطحې لوړوالی او برقرار ساتل
- اوږد مهاله اقتصادي پرمختګ
- د پیسو د پېر قدرت ساتل
- له نړیوالې سوداګرۍ سره مرسته او د تادیاتو د بېلانس مثبتوالی

په تعریف کې لیدل کیږي چې پورتني ټکي د پیسو د سیاست لوری ټاکي او بهتره ده چې دا ټکي تعریف کړو .د پیسو د سیاست مهم ټکي په لاندې ډول تر څېړنې لاندې نیسو:

## ۱:د پیسو د ارزښت ساتل :

د پیسو د ارزښت ساتل یوه نسبي پدیده ده،موږ نشو کولای چې په ټولیز ډول یې وڅېړو نوله همدې کبله غواړم له پوښتنو یې پیل کړم :

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه کولای شو چې د پیسو ارزښت رامنځته کړو؟ د پیسو ارزښت کولای شو له دوو لارو وڅېړو :

١. د پیسو کورنی ارزښت
٢. د پیسو بهرنی ارزښت

د پیسو ارزښت نه شو کولای چې د پیسو د حرکاتو د جګوالي او ټیټ والي د پیسو د مقدار په تغیر سره ارزیابي کړواو په دې اړه استدلال وکړو.مګر د پیسو ارزښت یوازې د توکو داندازې د تغیر د پیسو د حجم د تغیر په وړاندې وڅېړو.او یا یې ترارزونې لاندې ونیسو.

تاسو پوهېږئ چې د عرضه شویو پیسو او عرضه شویو توکو ترمنځ اړیکه معکوساً متناسبه ده دا په دې مانا چې که د پیسو په ټولیز مقدار کې زیاتوالی راشي او توکي ثابت وي د پیسو ارزښت نزولي لار نیسي د توکو قیمتونه لوړېږي . د موضوع د روښانتیا لپاره لاندې جدول ته ځیر شئ:

| شمېره | د پیسو په مقدار کې تغیر | د توکو په مقدار کې تغیر | په قیمتونو کې تغیر | په ارزښت کې تغیر |
|---|---|---|---|---|
| ١ | لوړ | ثابت | لوړ | کمښت |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲ | کمښت | ثابت | ټیټ | لوړ |
| ۳ | لوړ | لوړ | ثابت | ثابت |

د پیسو بهرنی ارزښت د کورني ارزښت انعکاس دی چې د تادیاتو په بیلانس کې منعکس کیږي .

# د تادیاتو بیلانس

د یو هېواد ټولې اقتصادي راکړې ورکړې د نړۍ له نورو هېوادونو سره چې په یو ټاکلي وخت (یو کال ) کې یې ترسره کوي دتادیاتو د بیلانس په نامه یادیږي.د پیسو سیاست، یوازې د پیسو په حرکت پورې نه شو تړلید دې تر څنګ د هېواد اقتصادي او ټولنیز حالتهم باید وڅېړل شي همدرانګه د هېواد سیاسي او نظامي حالت چې د پیسو د ارزښت په ټاکلو کې فرعي وسیلې دي باید په نظر کې ونیول شي .پورتنۍجملې موږ ته رانښي چې د توکو او پیسو دمقدار تغیر د پیسو دارزښت په ټاکلو کې مرکزي رول لري. همدرانګه یو شمیر نور عناصر هم شته چې د پیسو د ارزښت په ټاکلو کې نقش لري .خو کومه تیوري چې موږ تر مطالعې لاندې نیسو په هغې کې یوازې د پیسوټولیز مقدار او دتوکو ټولیز مقدار تغیر د پیسو د ارزښت په ټاکلو کې یو د بل پر وړاندې ږدو .لیکن زما په نظر په ډېرو مواردو کې چې د توکو ټولیز مقدار او د پیسو په ټولیز مقدار کې تغیر نه وي راغلی بیا هم د

www.meliatahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسو په ارزښت کې تغیر راځي چې یو شمېر نور عوامل لکه : سیاسي ،اقتصادي ،ټولنیز او نظامي حالت هم د پیسو په ارزښت کې تغیر راولي.

پورتني عوامل د اقتصاد په علم کې د اخباري قیمتونو په نامه یادېږي او په پرمختیایي هېوادونو کې ډېر تر سترګو کېږي .زه په دې باور یم چې په پرمختیایي هېوادونو کې سیاسي تغیر او ټولنیزې ستونزې دومره ډېرې وي چې په یوې دایمي پدیدې بدلېږي او حتأد قانون بڼه اختیاروي چې دغه تغیر په ډېره جدي توګه د پیسو په ارزښت اغېزه لري . ډېری وخت دغه اغېزې د توکو د تولیز مقدار او د پیسو د تولیز مقدار له تغیر څخه هم ډېرې وي.

د پیسو بهرنۍ ارزښت هم له دغو عواملو څخه اغېزمن کېږي د نړۍ په هر کونج کې انقلابي حرکات او د یو هېواد تېري کوونکي حالات د پیسو په ارزښت مستقیماً اغېزه لري .همدارنګه په یوه ځانګړي اقتصادي حوزه کې د هېوادونو دښمنانه سیاستونه هم ډېره اغېزه لري چې په دې برخه کې د ګاونډیو د بېوزله کولو سیاستونه ډېر د بحث وړ دي . دا سیاست د نورو وسایلو په نسبت د پیسو په وسیله ډېره تکیه لري .د هېوادونو د پیسو د ارزښت دله منځه وړلو موخې ته د رسېدو لپاره د دهلیز په بڼه کارېږي . د پیسو د سیاست په جوړولو کې باید پورتني عوامل په نظر کې ونیول شي خو کهپورتني عوامل په نظر کې ونه نیول شي نو د پیسو سیاست به کومه ځانګړې اغېزه ونلري . ټول حکومتونه د پیسو د ارزښت د ساتلو او کمښت

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه د مخنیوي لپاره په یوې ګټورې وسیلې پورې تړلي چې د پیسو ریفورم ورته وایي.

## د پیسو ریفورم

د پیسو ریفورم ته د پیسو اصلاحات هم وایي او لومړۍموخه یې : له یو سلسله اقداماتو او تدابیرو څخه چې د حکومت او یا د حکومت له لورې یوې باصلاحیته ادارې ته د پیسو په تیزۍ سره راستنبدل د پیسو مطلوب حالت ته او یا هغه حالت ته چې د پیسو سیاستوال یې غواړي عبارت دی. ځینې وخت د پیسو ریفورم په پراخه توګه کارول کیږي او د پیسو په معیاري تغیراتو کې هم داخل وي د ساري په توګه د پیسو په نظام کې تعدیل راوستل او نور .خو په تولیز ډول د پیسو ریفورم د پیسو د پړسوب د له منځه وړلو او یا د پیسو د پړسوب د مخنیوي لپاره ترسره کیږي . سیاست جوړونکي د پیسو ریفورم د پیسو د نورو اقتصادي موخو د تر لاسه کولو لپاره د یوې وسیلې په توګه کاروي .اوس ویلی شو چې د پیسو ریفورم هغه تدابیر دي چې د پیسو سیاست جوړونکو تهد پیسو د مطلوب حالت د رامنځته کېدولپاره لار خلاصوي .

په یاد ولرئ، تاسو کولای شئچې د پیسو ریفورم له بېلابېلو تدابیرو پیل کړئ .دغه تدابیر کوم دي ؟مهرباني وکړئ لاندې کرښې مه لولئله ځانه سره فکر وکړئله ځانه پوښتنه وکړئچې کوم تدابیر باید د پیسو د ریفورم په وخت کې ونیول شي . په کاغذ یې ولیکئ ، دغه طریقه له تاسو سره مرسته کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو په راتلونکي کې په خپلواکه توګه تدابیر وړاندې یا ونیسئ . زه یقین لرم چې تاسو به دا کار همدا اوس پیل کړی وي په تعجب سره به وګورئ چې هیڅ یو کار ناممکن نه دی .

هغه تدابیر چې د پیسو سیاست جوړونکي یې د پیسو د ریفورم په وخت کې اجرا کوي په لاندې ډول دي :

- د پیسو خاوندان ( دود پیسې ، روان او وخت لرونکي امانت حسابونه )په دې مکلف کړي چېخپلې شتمنۍ په لږ شمېر د پیسو په واحدونو( دمثال په ډول د لسو پر وړاندې یو) تبدیلې کړي .
- د پیسو سیاستوال د قانون له مخې پیسه لرونکي په دې مجبوروي څو د دولت څخه دپور ناتبدیل اسناد واخلي. چې اجازه یې له دولت سره وي که دولت اجازه ورکړي کولای شي چې اسناد په نغده پیسو تبدیل کړي چې په اقتصاد کې د نغدوالي د کمښت سبب ګرځي .له دویم نړیوال جنګ وروسته یو شمېر هېوادونو لکه چکوسلواکیا ،بلژیك او هالنډ له دې لارې کار واخیست .
- دریېمه طریقه د پیسو په شتمنۍ د پرمختللې مالیې وضع کول دي او یا باید په بانك کې د پیسو د بیلانس یوه برخه حذف شي .چې له دې طریقې څخه په یوګوسلاویا او لویدیز المان کې کار اخیستل شوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مطلوبو قیمتونو سطحه :

په دې ځای کې غواړم چې د قیمتونو دتعادل د کلمې پرځای د مطلوبه قیمتکلمه وکاروم او باور پرې هم لرم . تعادلي قیمتونه په اقتصادي تیوري ګانو کې په زړې ټرمنالوژۍ بدل شوي چې نه غواړم بحث پرېوکړم او وخت ضایع کړم زموږ په وخت کې د مطلوبېدو په تیورۍ ډېر تاکید کېدو چې دا اصل د پیسو د سیاستوالو لپاره ډېر منطقي اصل وو.په اوسني وخت کې اقتصاد پوهان ټول موضوعات د اقتصاد له اړخه څېړي او هغه خلك لېوني ګڼي چې په تعادلي قیمت فکر کوي انسان پوهېږي چې دوی په لویه اشتباه کې ډوب دي خو بېرته معقولیت ته راګرځېدل یې د مطلوبیت قبلول دي.فکر کوم چې مطلوب استخدام،مطلوب قیمت د زړې اصطلاح ځای نیولای، اعظمي او اصغري قیمتونه دوه اصطلاحګانې دي چې په دې برخه کې ډېر کارول کېږي دغه دوه اصطلاحګانې په خپل ذات کې ښې او بدې نه دي . په ډېرو مواردو کې د دغو دوو طریقو کارول په سیاست کې په ځانګړې توګه د پیسو په سیاست کې ډېرې مهمې دي، دپیسو هغه حرکات چې د سیاستوالو له خوا مطلوب وي، په نښه کوي ، سیاستوالو ته هر هغه قیمت چې په اسانۍ سره وکولای شي د پیسو موخه تر لاسه کړي مطلوب قیمت دی .هغه قیمتونه چې لوړ وي د مصرف کوونکي لپاره د ډېر نفرت وړ وي خو د پیسو د یو سیاستوال لپاره په یو وخت کې یوازې مطلوب قیمت وي ، خو هغه قیمت چې ټیټ وي او مصرف کوونکو ته

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه وي د پیسو د سیاستوال لپاره کېدای شي چې په یو ټاکلي وخت کې بدترین قیمت وي . زموږ په وخت کې اقتصاد پوهانو د" فرید من "له کړنو ګټه پورته کوله چې د قیمت په لوړېدو سره یې هیڅ ډول اغېزه نه درلوده او د هغه برعکس هم .

داسې ولې دي؟او د پیسو سیاستوال په دې اړه څه کولای شي؟ اقتصادي معقولیت د پیسو د سیاستوال اصلي کړنه ده او دغه معقولیت د حالاتو او شرایطو په نظر کې نیولو سره رامنځته کېږي . پوهېږو چې لوړ قیمتونه به مولد اقتصاد او تولیدونکو ته او ټیټ قیمتونه به دمستهلیکونو د بحث لاندې وي .سیاستوال کولای شي چې د سمتي قیمتونو له طریقو څخه کار واخلي یو قیمت او یا هم دواړه ترکیب کړي .چې دغه وضعیت په اقتصادي حالاتو پورې اړه لري چې موږ یې لرو.لوړ قیمتونه مولده قیمتونه دي چې په حقیقت کې د مولد د هڅوني لپاره ترسره کېږي ولې دغه قیمت مستهلك ته د منلو وړ نه وياويا د دې ډول قیمتونو هڅونه په ټولنه کې ستونزې راپیدا کوي خو ددې برعکس ټیټ قیمتونه تولیدونکي نا راضه کوي او د پرمختګ مخه نیول کېږي،خو ولې د مستهلیکو لپاره د پاملرنې وړ وي.دغه قیمتونه که ظاهراًپه ټولنه کې د عدالت ټینګښت ښیي په لنډ وخت کې په ټولنه کې د پرمختګ ښکاروندی وي خو د اوږد مهال لپاره یې پایله برعکس وي چې ډېرې بېلګې یې په افغانستان کې لرو.په دې برخه کې مهرباني وکړئ د خپل ژوند څخه عملي بېلګې راوړئ او هغه له خپلو ملګروسره شریکې کړئباور لرم چې ښې پایلې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـري .پـه یـاد ولـرئ چـې د پیسـو سیاسـتوالو لپـاره مسـتهلك هـم یـوه اقتصادي وسیله ده چې د پیسو دکړنلارو په ټاکلو کې لـوی نقش لـري لـه دې اړخه د پیسو د سیاست جوړونکي یـوازې پـه مسـتهلکینو اتکـا نشـي کولای،بلکې د پیسو سیاستوال بایـد ټولنـه پـه طبقـو ووېشـي او پـه کامـل باور دا باید تثبیت کړي چې دکومې طبقې پالیسـي تطبیـق کـړي .زه فکـر کوم چې دا یـو اصـل دی او دا بایـد پـه جدي توګـه پـه نظـر کـې ونیـول شـي .کولای شو چې خلك له بېلابېلو لارو طبقه بندي کړو :

۱) د عاید
۲) ټولنیز موقف
۳) ثابتې شتمنۍ
۴) سپما کوونکي
۵) نـور عایـد لرونکـې طبقـه بنـدي کـول او د هغـوی پـر وړانـدې یـو معقول سیاست جوړول او یا داسې طبقـه بنـدي چـې دهغـوی لپـاره معقوله وي . دسکې دویم مخ د مستهلك او مولد دیچې د پیسـو د سیاسـت جوړونکیبایدورتـه پاملرنـه وکـړي.د مسـتهلك پـه څېـر کولای شو چې پانګوال او مولدین هم په طبقو ووېشو:

a. لوی پانګوال
b. منځني پانګوال
c. کوچني پانګوال

او یا د تولید له نظره :

(c) ketabton.com: The Digital Library



I. لوی تولیدونکي
II. منځني تولیدونکي
III. کوچني تولیدونکي

د تولید د ډول له نظره :

i. درنو صنایعو تولیدونکي
ii. د منځني صنایعو تولیدنکی
iii. د سپکو صنایعو تولیدنکي

د سکتور له نظره :

a. صنعتي تولیدونکي
b. کرنیز تولیدونکي
c. خدماتي تولیدونکیاو نور تقسیم بندي کړو او د پرېکړو پر وخت اسانتیاوې رامنځته کړو .

www.melitahrik.com 0777 400 116

دا تقسیم بندي د پیسو سیاست جوړونکي ته دا موقع ورکوي چې د پیسو د پالیسیو جوړولو پر وخت خپل حرکات ښه تنظیم کړي او دا تثبیت کړي چې د وګړو کومه کټګوري د سیاستونو په وسیله چې د قانون ښه نیسي حمایه کړي اوکومه کټګوري له دې چوکاټ څخه لرې کړي .په خپل سر جوړ شوي قیمتونه بازارونه دي او بازارونه هم د پیسو سیاست جوړونکو ته د پاملرنې وړ دي اوس کولای شو چې ووایو بازارونو ډولونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیمتونو کړنې په تولنه کې منعکسوي .او د بازار تنظیم د پیسو دسیاستوالو یوه دنده ده.

اوس له ځانه پوښتنه وکړئ چې څو ډوله بازار پېژنئ؟

همدا اوس قلم را واخلئ او د بازارونو لست تر تیب کړئ ستونزمن کار نه دی کولای شئ چې ترسره یې کړئ او یا په همدې اړه فکر وکړئ اوس ترتیب شوی لیست یا فکر مو یو له بل سره شریك کړئ حتما ښه پایله لري .پوهېږم چې له ماسره همنظره یاست چې نهه ډوله بازارونه مو لیکلي او دغه بازارنه له دوو اقتصادي اصطلاح ګانو(عرضه او تقاضا) څخه جوړ شوي دي.لاندې جدول ته ځیر شي:

www.meltahrik.com 0777 400 116

| عرضه / تقاضا | مونو پول | اولیګوپول | پولیپول |
|---|---|---|---|
| مونو پول | دوه اړخیزه کامل انحصار | د تقاضا محدود انحصار | د تقاضا کامل انحصار |
| اولیګو پول | د عرضې محدود انحصار | دوه اړخیزه محدود انحصار | اولیګوپول عرضه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| بشـــــپړه سیالي | د عرضې اولیګو پول | د عرضـــې کامـــل انحصار | پولیپول |

زه باور لرم چې سیاستوال نشي کولای یوه نسخه ټولو بازارونو ته تیاره کړي مو ږ اوس هم دا ناکامه نسخه امتحانوو او ښه وینو چې له ناکامۍ سره مخ دي او هغه هم ددې لپاره چې هر بازار د خپل ځان لپاره ځانته سیاست او کړنې ته اړتیا لري چې دهغې مطابق باید تدابیر ونیسو.په یادولرئ چې د بازارونو په اړه تعصب د اقتصاد له نظره ښه کار نه دی ځکه ځیني بازارونه د هېواد لپاره ګټور خو د بل هېواد لپاره ګټور نه وید ساري په توګه انحصار په خپل ذات کې بده پېښه نه ده ولې د دغې پېښې حرکات ښه او بد دي انحصار د ځینو هېوادونو په اقتصاد کې حیاتي رول لري او کیدای شي چې د بل هېواد په اقتصاد کې ډېره پراخه ونډه ولري خو په دواړو وختونو کې انحصار دی.

الف – د پیسو سیاستونه او په قیمت یې اغیزې

لکه څرنګه مو چې وویل د پیسو سیاستوال د پرېکړو په پایله کې کولای شي په قیمتونو لویه اغېزه واچوي چې دا د پیسو د سیاستوال یوه دنده هم ده .د پیسو سیاست جوړونکیکولای شي چې د قیمتونو نوسانات تر خپل کنټرول لاندې راولي او له هغوی سره اقتصادي لوبه ترسره کړي . چې دغه نوسانات په عمده ډول د پیسو د سیاست جوړونکو لخوا طرحه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي له دې کبله د قیمتونو نوسانات د پیسو دسیاستونو یو مهه برخه ده چې د قیمتونو د سیاست په چوکاټ کې ځای لري .د قیمتونو نوسانات په ظاهره د قیمتونو ټیټ والی او جګوالی دی ،په ډېرو اقتصادي څېړنو کې نوسانات همدا د قیمتونو جګوالی او ټیټ والی دی د ډېرو اقتصاد پوهانو په تیوري ګانو کې د قیمتونو دوه یا درې سلنه جګوالي ته اجازه ورکول کیږیخو ولې د شلمې پېړۍ په اخر او د یوویشتمې پېړۍ په سر کې اقتصاد پوهانپه دې نظر نه دي ، دې اقتصاد پوهانو یوه مشهورهتیوري،پرمختګ په رکود کې رامنځته کړه او وايي چې د قیمتونو جګوالی یوازې دانه چې اقتصاد له رکود سره مخامخ کړی، بلکې د اقتصادي پرمختګ زمینه هم برابروي ."فرید من "او د هغه پیروان د دغې تیوري مخکښان دي .دې پوهانو خپل نظریات داسې وړاندې کړي:د قیمتونو د جګوالي پر وخت پانګوال د ډېرې ګټې دلاسته راوړلو په موخه ډېره پانګونه کوي چې ورسره تولید ډېرېږي او د تولید ډېرښت د استخدام سطحه لوړوي د استخدام د سطحې په لوړوالي سره خلك عاید ترلاسه کوي کله چې د خلکو عاید ډېر شي تقاضا هم ډېرېږي په ځانګړې توګه ګټوره تقاضا چې دغه امر په خپله پانګونه ډېروي اوپه ټولیز ډول اقتصادي پرمختګ رامنځته کېږي. په یاد ولرئ چې په دې کې یوازې مطلوب قیمت په نظر کې نیول کېږي که قیمتونه ډېر لوړ لاړ شي بیا یې پایله منفي وي.ددې نظریې مخالفین وايي :د قیمتونو د جګوالي سره د تولید د عواملو قیمت هم لوړېږي چې پانګوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجبور دي څو د خپلې ګټې يوه برخه د قيمتونو په لوړوالي ورکړي چې ورسره د توليداتو قيمتونه هم لوړېږي،د هېواد په ملي اقتصاد ډېرې اغيزې لري دا اغيزې ډېر وخت منفي وي او ټولنيزې ستونزې هم راپيدا کوي.د قيمتونو نامطلوبه لوړوالى او ټيټوالى په حکومت او ټول هېواد ډېرې بدې اغېزې واردوي نو له دې کبله د قيمتونو د نامطلوبه جګوالي او ټيټوالي مخه بايد ونيول شي .د قيمتونو د نوساناتو اغېزې د هېوادونو د اقتصادي پرمختګ له کبله متفاوتې وي.دا اغېزې په پرمختيايي هېوادونو کې ډېرې وي ځکه په دې هېوادونو کې د پانګې کمښت او د قيمتونو لوړوالى د هېوادونو اقتصاد زيانمنوي .

ب – د قيمتونو د جګوالي سببونه : غواړم په دې ځای کې دا بحث نور هم اوږد کړم او دا موضوع په پراخه توګه وڅېړم هغه سببونه چې د قيمتونو د جګوالي سبب ګرځي په لنډ ډول تر څېړنې لاندې نيسو ځکه چې په نورو اقتصادی بحثونو کې څېړل شوي:

## د قيمتونو د جګوالي پيسيز (پولي ) سببونه

١. د بودجې د کسر سياست :کله چې حکومت په دې هڅه کې شي چې د بودجې کسر د پيسو د نشر له لارې يا د نورو لارو چې د پيسو مقدار بيدون د توکو د تغير څخه ډېر کړي د پيسو د مقدار په تناسب سره په تقاضا کې ډېر والى راځي او دقيمتونو سير لوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. د دولت د لګښتونو په جوړښت کې تغیر : که د دولت جوړښت او د لګښتونو جوړښت منفي لور ته لاړ شي او دغه لګښتونه د تولیداتو او توکو پر تولید ونه لګول شي، بلکې یوازې په استهلاکي او په عادی لګښتونو ولګول شي نو په دې صورت کې قیمتونه لوړیږي .

۳. په دولتي برخه کې د استخدام لوړوالی : دولت په ځانګړو وختونو کې د خپل ټولنیز سیاست مطابق د بېکارۍد له منځه وړلو او د بې ثباتۍدمخنیوي لپاره په ټولنه کې د استخدام سطحه لوړوي،نو په دې صورت کې پټه بېکاري او دمصنوعي عاید په وجه په بازار کې تقاضا تغیر خوري چې دغه تقاضا د قیمت د لوړوالي سبب ګرځي.

۴. د سپماشویو پیسو کارول د قیمتونو د جګوالي له کبله : په هغه حالت کې چې سپما کوونکي د خپلو لګښتونو د پوره کولو لپاره چې د قیمت دلوړوالي له امله رامنځته شوي له خپلو سپما شوو پیسو څخه ګټه پورته کړي، تقاضا ډېریږي او قیمتونه نور هم لوړیږي.

۵. د یو بد رواني حالت جوړول چې سپما کوونکي پیسې په اسعارو تبادله کړي: رواني حالت هم کولای شي د تقاضا په زیاتوالي کې رول ولوبوي چې دغه رول په ځانګړو حالتونو کې وي په دې رواني حالت کې تقاضا کوونکي د تقاضا د لوړوالي لپاره هڅه کوي او دغه هڅې په بازار کې تقاضا ته تغیر ورکوي او د قیمتونو د لوړوالي سبب ګرځي.

۶. د پیسو په وسیله د ثابتو شتمنیو رانیول :کله چې پیسه لرونکي خلك د پیسو د ارزښت د کمښت له وېرې پیسې د ثابتو شتمنیو د رانیولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاروي نو په دې وسیله ثابتو شتمنیو ته تقاضا لوړېږي او قیمتونه هم لوړېږي
.

## د قیمتونو د لوړوالي توکیز سببونه

۱. د توکو د تولید کمښت : د توکو د تولید کمښت د توکو په ټولیزه عرضه او ټولیزه تقاضا کې تغیر رامنځته کوي او دغه تغیر د تقاضا لور ته ځي چې دغه تقاضا په خپله قیمتونه لوړوي .

۲. د توکو د تمام شوي قیمت لوړوالی او د لېږد رالېږ د لګښتونو لوړوالی : د لېږد رالېږد دلګښتونو د لوړوالي له کبله قیمتونه لوړېږي چې دغه لګښتونه د عصري وسایلو نه کارول،د ښو مواصلاتي لارو نه شتون له کبله رامنځته کېږي چې ورسره د توکو قیمتونه هم لوړېږي.

۳. په ټرانسپورټ او انتقالاتو کې موانع او ستونزې : د توکو دلېږد او انتقالاتو ستونزې د توکو قیمتونه لوړوي ستونزې د قوانینو ګونګ توب،د ژباړې په وسیله مغلقیدل،او له نورو هېوادونو د قوانینو راخیستل،بد امني،په غیر رسمي ډول له ترانسپورټي شبکو څخه د پیسو اخیستل او بعضې وخت د جغرافیایي موقعت له کبله راپیدا کېږي.

۴. احتکار د پانګوالو،سوداګرو او مولدینو معلومات نه شتون د ټولنې په اړه : په دې اړه ډېر څه نه وایم ځکه په دې اړه ټول پوهېږي په ځانګړې توګه هغه څوک چې دا عمل ترسره کوي ځکه دا عمل د نړۍ په ټولو ادیانو کې ناروا عمل ګڼل شوی چې له دې سره هم قمیتونه لوړیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دجوړښت له کبله د قیمتونو لوړوالي

۱. د پرمختګ او د تولید د عوامل ترمنځ نامساوات : په دې ځای کې نامساوات څخه موخه د تولید د عواملو په داخل کې د تولید د عواملو ترمنځ او بل اړخه يې د تولید دعواملو او د پرمختګ ترمنځ بې تناسبیده چې دغه بې تناسبي د قیمتونو د لوړوالی سبب ګرځي .دا په دې مانا چې په ډېرو هېوادونو کې د موخو د ترلاسه کولو لپاره د تولید عوامل په کافي اندازه شتون نه لري ورسره قیمتونه اغېزمن کېږي چې په ډېرو مورادو کې لیدل کېږید پانګې تناسب له نورو عواملو سره بې تناسبي ښيي چې دوه ډوله اغېزې په قیمتونو لري .

۲. د خپل سري سیستم او ښه بانکي سیستم نه شتون

۳. په ازاد بازار کې د سود د بیې لوړوالی په ځانګړې توګه په پرمختیایي هېوادونو کې.

## د قیمت د لوړوالي رواني سببونه

۱. د ټول اقتصاد په اړه د بدو نظرونو رامنځته کېدل او د مرکزيت د له لاسه ورکولو وېره.

۲. د ځینو ذهنونو شتون چې د ورځپاڼو پروپاګند قبلوي دا ډول قیمتونو ته په اقتصاد کې اخباري قیمتونه وايي چې د ناورین په وخت کې د قیمتونو د لوړ والي د لوی عامل په توګه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قیمت دلوړوالي د مخنیوي لارې ګودرې

- د پیسو د سیاست لارې ګودرې :

۱. د پور دولتي اسنادو نشرول

۲. له لاژمو سپماوو څخه ګټه پورته کونه

۳. له کریدټي سیاستونو څخه د سوداګرو لپاره ګټه پورته کونه

- د توکو دسیاست لارې ګودرې:

۱. د تولیدي موسیساتو تقویه چېډ پر توکي عرضه کوي په ځانګړې توګه د دولتي تولیدي موسیساتو.

۲. د دولت د کارکونکو تقویه د لویې مصرفي ګټکوري په توګه د هغوی لپاره د توکو اسانتیاوې برابرول .

- کوچنۍ او کنټرولي لارې ګودرې :

۱. د احتکار د مخنیوي لپاره لاژم اجرات کول

۲. د قوانینو او طرزالعملونو جوړول د سوداګرو د ګټې په منظور په هغه صورت کې چې د قیمتونو لوړ والی ملي اقتصاد تهدیدوي.

۳. د یوې ستراتیژي جوړول چې وکولای شي په ځانګړو وختونو کې ځانګړي کارونه ترسره کړي .

د – د قیمتونو د تغیر اوږدمهاله موخې : پدې اړه غوارم د موضوع د روښانولو لپاره د نوبل جایزې ګټونکي "سامولین "د مشهور کتاب د نړۍ اقتصاد څخه یوه خبره نقل کړم :اخري مطلوب هغه دی چې زموږ د ټولنې اقتصاد تل کامل استخدام او د پراختیا په حال کې وي نوسانات او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوداګریز دوران وتاکل شي په اصطلاح ( د ډالرو لېونی ګډا ) دا په دې مانا چې د قیمتونو شدید نوسانات په روښانه او ضعیف حالت کې کنټرول کړي ولې د قیمتونو د لوړوالي اوږد مهاله سیر په اړه دا نظریې وړاندې شوې دي:

a. د قیمتونو د تثبیت نظریه : ددې نظریې پر اساس د قیمتونو مودل بایـد د اوږد مهال لپاره ثابت وساتل شي د نفوسو په ډېرښت، د پانګې دډېروالي او فني پرمختګ له کبله تولیز لګښتونه لوړېږي د پیسو مزدونه او حقیقي مزدونه لوړېږي او کار پرمختګ کوي .

b. د تل ډېرښت نظریه او د قیمتونو ټیټوالی : ددې ډول سیاستونو مخ ته وړل کامل استخدام رامنځته کوي او په تولیز تولید ډېرېږي . د تولنې تولیز ډالري لګښتونه او د کار د مناسب ګټورتوب ډېرښت او د اقتصادي کړنو پراختیا نسبت قیمتونو ته تیز وي .په دې شرایطو کې پیسیز (پولي ) مزدونه په مسلسل ډول لوړېږي ولې حقیقي مزدونه ډېر کمرنګه وي،نو ځکه د ژوند لګښتونه جریان لري.

c. د تل تنزیل نظریه او د قیمتونو ټیټوالی :ددې سیاست په کارولو سره پیسیز(پولي ) مزدونه او هغه عواید چې له شتمنیو لاسته راځي تقریبا ثابت وي. هغه ډېرښت چې د فني روش له پرمختګ څخه لاسته راغلی وي د قیمتونو د تنزیل له لارې د مصرفونکو عاید ګڼل کېږي پیسیز(پولي) مزدونه ثابت پاتې کېږي ولې حقیقي مزدونه ډېرېږي.د قیمتونو تنزیل باید د اقتصادي کړنو او کسبونو د کمښت سبب ونه ګرځي د دې لپاره باید د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیمتونو تنزیل له دې وړاندې چې د اقتصادي موسیساتو د خرڅلاو قیمت ټیټ کړي باید د هغې موسیسې د تولید لګښتونه ټیټ شي .
د حل درې واړه لارې چې وکولای شي بېکاري خپلې ټیټې کچې ته ټیټه کړي او په دې حد کې باقي پاتې شي د منلو وړ دي. په یوه اقتصادي حوزه کې د دریوو لارو چې هره یوه قبوله کړي تفاوت نه لري په دې شرط چې د قیمتونو په اړهوړاندوینه شوې وي او اقتصادي دستګاه باید ځان ورسره تطبیق کړي.

www.meitarrik.com 0777 400 116

## د پیسو بازار ته د سیاستوال ورتګ

یو سیاستوال څنګه کولای شي چې د پیسو بازار ته داخل شي باید له کومو لارو ګودرو کار واخلي او له هغه بازار څخه څنګه ځان لرې کړي کوم چې ده دتائید وړ نه وي.سیاستوال باید لاندې کارونه ترسره کړي.

- کولای شي چې د بازار له تحلیل څخه ګټه واخلي او په دغه تحلیل کې له لاندې میتودنو څخه کار واخلي :

١. سواټ S.W.O.T: سواټ له څلورو انګلیسي کلمو څخه جوړ شوی چې د تحلیل لپاره اساسي موضوعات بیانوي.په یاد ولرئ چې دغه میتود په ټولو تحلیلونو کې تر ټولو ګټور میتود دی.

| | |
|---|---|
| کمزوري Weakness | ځواکمنتیا Strengths |
| ګواښونه Threats | موقې(فرصتونه) Opportunities |

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلتــه سیاســتوال بایــد پــه دې پــوه شــي تېــرو طریقــو کومــه ځواکمنتیــا لرلـه،کمزوري يـې څـه وه چې کـار پرې وشـي اوتـر څنګ يـې کـومې مـوقې اوفرصتونه لرل له موقو د کومو عواملو پر اساس ګټه نه ده پورته شوېاو لـه کومو موقو يې نهایي ګټه پورته شوې کوم شی زموږ سیاست ګواښـوي او تـر کومه ځایه يې زموږ سیاست تهدید کړی.د ساري په نظر کې نیولو سره دیو هېواد اقتصادي حالت تحلیل کړئاو دهغه پر اساس خپل سیاست جوړ کړئ اوس ښه لاربنود لرئ او د پیست له میتود څخه کار واخلئ .

- پیست P.E.S.T: په دې میتود کې د پیسو سیاستوال سیاسي حالت تر څېړنې لاندې نیسي او هغه په دې هڅه کې وي تر څو په دې وپوهېږي چې سیاسي اوضاع دپخوانیو سیاستونو په تطبیق او عدم تطبیق څومره اغېزه لرله او هغه باید ځانته رامعلومه کړي .

اقتصادي وضعه هم د پیسو سیاستوالو تـه اړینه ده او هغـوی بایـد پـه دې پـوه شي چې په څه ډول اقتصادي حالت کې قرار لري کوم ډول اقتصادي حالت په اقتصاد حاکم دیاو په دې حالت کې باید کوم تدابیر ونیسي .

ټولنه چې په خپله د سیاست منشا ده او د پیسو دسیاستوالو لپاره ځانګړې اهمیت لري،ټولنه چې سیاستوال په کې ژوند کوي کولای شي دسیاست د تطبیق په برخه کې ښه انګیزه او یا بده انګیزه رامنځته کړي په ډېرو مواردو کې نوې پرېکړې د نوي سیاست په بنه بې ګټې وياو باید انتظار وکړي تر څو شرایط ښه شي چې ډېری سیاستوال په دې پوهېږي . د شرایطو په نظر کې نه نیـول کـه سیاسـت هـر څـومره معقـول وي لـه ناکـامۍ سره مخامخیږیله تېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library




سیاستونو څخه عبرت واخلئاو یوازې اصلاحات وکاروئ چې دا په حقیقت کې واقعیت ته ځان سپارل دي او له تېزوالي معقوله تېښته ده .
له ټکنالوژۍ څخه ګټه پورته کولهم د یو سیاستوال لپاره اړینه دهاو هغه باید په دې پوه شي چې له ټکنالوژۍ څخه ګټه تر کومې کچې ده د دې معلوماتو په وسیله برېښنایي وسایل د پیسو په روشونو کې ټاکي بې له دې له ډېرو برېښنایي وسایلو څخه ګټه پورته کونه د پیسو د سیاست د یوې وسیلې په توګه چې د تطبیق شرایط یې شتون ونلري په اقتصاد کې په نا ببره توګه ثقافتي خلا رامنځته کوي. هغه باید په دې پوه شي څو سلنه اقتصاد کولای شي له پرمختللې ټکنالوژۍ ګټه واخلي او باید کوم ډول ټکنالوژي وي،ځکه په ځینې هېوادونو کې دویم لاس ټکنالوژي ګټوره وي نسبت اول لاس ته.هندوستان په دې برخه کې ډېرې تجربې وازمولې او ښې پایلې یې تر لاسه کړې .د لومړي وزیر راجیو ګاندي د اندراګاندي زوی په وخت کې هندوستان خپل اقتصاد کمپیوټرایز کړو اولومړي وزیر یې دویم لاس کامپیوټرونه له المان هېواد څخه واخیستل چې د هندوستان دولت په لومړیو کې له دې طرحې سره مخالفت درلود او ټاکید یې کاوو چې لومړۍ درجه کمپیوټرونه باید له جاپان او یا بل هېواد څخه واخیستل شي د هندوستان د لومړي وزیر دلیل دا و چې دا کمپیوټرونه د هېواد د شرایطو مطابق دي او موږ کولای شو چې ښه ګټه ترې واخلو او کهکله یې جوړېدو ته اړتیا پیداشوه، نو کولای شو چې په هندوستان کې یې ببرته جوړ کړو،خوډېرې وخت ددې کمپوټرونو ترمیم دنوي کمپوټرونو داخستلو هومره لګښت درلود. هند له لږ وخت وروسته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وتوانېده چې خپل لومړی کمپیوټر بازار ته عرضه کړي او د هند اقتصاد کمپیوټرایز کړي .



(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه چې په شکل کې ګورئ له ټکنالوژۍ ګټه پورته کونه یو مسله ده او د بدو اثراتو د مخنیوي په خاطر چې په نظر کې نیول کېږي جدي کار ته اړتیالري.مهمه مسله ده باید په نظر کې ونیول شي او بحث پرې وشي له لوړ تخنیك څخه ګټه پورته کول کېدی شي چې ډېره مثبته وي ولې په ډېرو مواردو کې د بېکارۍ سبب ګرځي . دا مسله په پرمختیایي هېوادونو کې ډېره مهمه ده. په دې ځای کې لیدل کېږي هغه تغیرات چې په تخنیك کې راوستلی شي او په نورو عواملو کې تغیرات رانه وستل شي د بېکارۍد رامنځته کېدو سبب ګرځي او که نورو عواملو ته مثبت بدلون ورکړو ګراف بل شکل غوره کوي.

## د پیسو له وسایلو ښه ګټه پورته کونه

پیسې د پیسو د سیاست مهمه وسیله ده،پیسې کېدی شي چې هم موخه او موخې ته د رسیدو وسیله وي.د پیسو دا دوه ګونې ځانګړتیاوې د پیسو اړتیا د پیسو د سیاست په برخه کې ښیي .پوهېږئ چې ټول د پیسو سیاستونه د پیسو د مطلوب ارزښت او له دې لارې نورې موخې لکه اقتصادي او ټولنیز پرمختګ رامنځته کول دي .د دې لپاره چې یو کوچنی بحث په پیسو وکړم د پیسو له ډولونو یې رانیسم .دا جادویي وسیله چې په اوسني وخت کې پرې ټول توکي اندازه کېږي.بېلا بېل تعریفونه لري :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه مينه لرم چې ووايم : هر هغه څه چې د پيسو دنده ترسره کړي پيسې دي.غواړم پيسې د دندو پر اساس وپېژنم او له همدې لارې تو لیز تعريف ته ورسم."فرانسوا پيرو" پيسې د تبادلې او د ارزښت د ساتلو د وسيلې په توګه راپېژني او يو له مشهورو تعريفونو څخه ګڼل کېږي چې د پيسو په اړه شوی دی.د امريکا مرکزي بانك د پيسو په اړه وايي :پيسې عبارت دي له بانکنوټو،سکو ،روان حسابونو،مسافري چکونو او دسپماله حسابونو څخه .

د پيسو ډولونه :د پيسو د ډولونو په اړه د نورو علومو په څېر د پوهانو ترمنځ اختلاف شتون لري خو د پوهانو دنظرياتو د اختلافاتو سره سره بياهم موږ د پيسو ډولونه تر څېړنې لاندې نيسو،د ښه پوهولو لپاره اړينه ګڼم چې د پيسو د رامنځته کېدو په اړه معلومات ترلاسه کړو که څه هم دا موضوع به تاسو ته تکراري وي خو بياتکرار يې ښه ګڼم .

د پيسو رامنځته کېدل : پوهان په دې باور دي ،کله چې بشر دوو عناصروته لاس رسی پيدا کړو د انسان په ژوند کې بشپړ بدلون رامنځته شو . چې دغه دوه عناصر يو پيسې او بل اسپرين ټابليټ دي. انسان يې دومره پياوړی کړو چې نور موجودات د انسان دلګښت يوه برخه وګرځېده .تبادله چې د انسان د ژوند دوام پرې ولاړ دياو موږ نشو کولای پرته له تبادلې خپل پرمختيايي کارونه تنظيم کړو.انسان د ژوند له لومړۍ ورځې څخه د خپلو اړتياوو د پوره کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره قدم پورته کړی دی .چې دغه اړتیاوې د ډېر لږ وخت لپاره په چپ او ګونګحالت کې ترسره شوې، وروسته توکي رامنځته شول او د توکو په منځ کې ځیني د تبادلې په توګه وکارول شولچې ددې باوجود نشم کولی هغوی ته پیسې ووایم خو بیا هم د پیسو دنده یې تر ډېره وخته ترسره کولهاو د تبادلې لاریې مخته یوړه .

ځیني پوهان پیسې د تبادلې په توګه په اتلمسه زېږدیزه پېړۍ کې چې کله فلزي پیسي رامنځته شوې پېژني او ویېکولای شول چې په اتلسمه زېږدیزه پېړۍ کې په ټوله نړۍ حکومت وکړي .د پیسو درامنځته کېدو د ځای په اړه د پوهانو ترمنځ د نظر اختلاف شتون لري یو شمېر پوهان د نورو علومو په څېر د پیسو د راپیدا کېدو ځای یونان ګڼي او دکار د اسانۍ لپاره نور ځایونه خیالي ګڼي ،ولې تر اوسه په دې اړه کوم لیکلی ثبوت نشته خو تاریخ شاهد دی چې چینایان لومړني خلك ول چې له سند څخه یې د اوسنیو پیسو په توګه کار اخیستی، چین لومړنی هېواد و چې په کال **۱۴۵۵** زېږدیز کې یېپیسې نشر کړې له هغې ۲۰۰ کال وروسته په اروپا کې سند د بانکنوټ په شکل نشر شو د بانکوټ سند دنشر لپاره ښه بهانه دا وه چې د سرو او سپینو زرو ډېرښت له کبله د دوی په ارزښت کې کموالی راځي او قیمتونه لوړېږي.له دې معلومېږي چې چینایانو د پیسو د پړسوب اصطلاح له اروپایانو پخوا پېژندله او دهغه د مخنیوي لپاره یې دا کارونه ترسره کړي ول ولې لویدیز نشرات دغه موضوع په لویدیز پسې تړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي چې دا اصطلاح په لومړي ځل په هسپانيا کې کارول شوې او دليل راوړي چې د استهکالم بانك ۱۶۳۰ زیږدیز انګلستان بانك ۱۶۹۴ زیږدیز چې وروسته بيا د فرانسې سلطانتي بانك او نورو بانکونو پيسې نشر کړې .بابليانو هم د شپږم سالار "اسوري هامورابي "په وخت کې پدې اره په کال ۱۴۰۰ ق .م کارونه ترسره کړي دي .زموږ په هېواد کې هم له ډېرو پخوا زمانو څخه تمدن(ښاريتوب) شتون درلود او د پيسو نښې د اريايانو له وخت څخه تر سترګو کېږي او هغه سکې شتون لري چې اريايانو به په تبادلو کې تري ګټه پورته کوله او د لوړ کلتور څخه برخورداره وې .
بيا هم د پيسو تر ډولونو وړاندې غواړم د پيسو ځينې مهمې ټرمينالوژۍ چې د پيسو يو سياستوال بايد پرې پوه شي ذکر کوم زما موخه هغه نه دي چې پوهېږي بلکې هغه دي چې اړتياورته لري :

## د پیسو د سیاست لپاره اړین اصطلاحات

- د پيسو ورکړل شوی نظام : په دې ډول نظام کې حکومت د پيسومقدار په دورانکې د دې لپاره تنظيموي څوځيني موخې (د قيمت استقرار ) ترلاسه کړي.دې ډول نظام ته Fait Standardنظام هم وايي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د پیسو زېرمې : د هغو سره زریزو سکو مقدار چې دولت یا بانك د تضمین په توګه د اعتباري پیسو پر وړاندې چې په دوران کې دي ، ساتلې وي .
- د پیسو واحد : یو ځانګړی مقدار جنس چې د پیسو د معیار په توګه ټاکل کېږي او نوم ورته تعینیږي .
- د پور تبدیلول په پیسو : د بانکي سیستم په وسیله د پیسو د ډېربښت په موخه د پور دولتي اسنادو اخیستل .کله چې دا اسناد د بانکونو له خوا واخیستل شي هغه پیسې چې د دې په مقابل کې ورکول کېږي د پیسو حجم په دوران کې ډېروي .
- د پیسو معیار : هغه معیار چې دهغې پر اساس پیسې نشرېږي او د هغه لپاره د پیسو مقدار تعینیږي . په لاندې ډول دي :
- ♣ دوه فلزه معیار : هغه معیار چې په هغه کې دوه متناسب فلزه دتبادلې د معیار په توګه ټاکل کېږي او خپل منځ کې هیڅ ارزښتي اړیکه نلري .
- ♣ د سرو او سپینو دوه فلزه معیار : هغه معیار چې په هغه کې دواړه فلزه په تبادله کې داخل وي او دواړه ارزښتي اړیکه ولري .
- ♣ د سرو سکه یي معیار :هغه معیار چې بانکنوټ په کې د سرو په سکو د تبادلې وړ وي .چې په دې معیار کې د بانکونو د سرو زېرمې کمېږي.
- ♣ د سرو اسعاري معیار : دا معیار په نړۍ کې تر ټولو مشهورمعیار دی دا معیار د بریتن وډز په نامه هم مشهور دی او د کال **۱۹۴۵-۱۹۷۳** پورې د نړۍ لومړی د پیسو معیار و چې پر تبادلې حاکم و دا معیار د امریکا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژمنې پر اساس رامنځته شوی و او په دې کې امریکا ژمنه کړې وه چې د یو ونس سرو په مقابل کې به۳۳ډالره ورکوي چې بیاپه ټوله نړۍ کې خلکو د سرو پر ځای ډالر ساتل .

- د سرو معیار : دا معیار تر ټولو پر ځای معیار دی چې د ډېر اوږد وخت لپاره یې په نړۍ کې د معیار په توګه دنده ترسره کړې ده اوس هم د نړۍ ډېرو پوهانو او هېوادونو د پیسو عرضه د سرو په معیار پیسې تړي . په اوسني وخت کې سرو معیار ته ګرځېدل د اقتصاد د علم له ګرمو مسایلو څخه شمېرل کېږي چې انګلستان یې تر ټولو ډېر طرفدار دی .د دې نظام مهم اصل دا دی چې سره د اصلي معیار په توګه او دهغې پر اساس نورې پیسې کارول کېږي . ددې تیوري طرفدار په دې عقیده دي چې د سرو معیار د پیسو د عرضې د کنټرول لپاره ښه ځواك دی .
- کاغذي اصلاح شوی معیار :په نړۍ کې تر ټولو دود معیار دی پدې معیار کې پیسې په خپله په خپل ذات کې د تبادلې وړ دي او زموږ په هېواد کې هم همدا معیار چلېږي .
- د پیسو نظام : یوه ټولیزه اصطلاح ده چې د هغه په مفهوم کې سیاستونه او معاملات داخل دي د یو هېواد پیسې تر خپلې اغېزې لاندې راولي .
- د پسو واك: د هر هېواد دا حق دی تر څو خپل اقتصاد مصئون کړي د پیسو د پړسوب،بېکارۍ،د تادیاتو د بېلانس نامساوات ،د یو شمېر نړیوالو موسساتو په شتون کې په ځانګړې توګه دنړیوال وجهي صندوق له ژمنې سره سم پوره کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- باور Credit: د یو مبلغ هر ډول ورکړه یا د ورکړې ژمنه ده چې د ګټهانې(سود) د ورکولو سره د ورکړل شوي مبلغ د بېرته ورکړې حق ،د نورو تضمین شویو او نا تضمین شویو لګښتونو،د پور هر ډول تمدید ،هر ډول صادر شوي تضمین او د پور د بهالرونکوسندونو د پیردولو او یا د مبلغ د ورکړې د ژمنې دنورو ډولونو په عوض چې په مستقیمه توګه یا د ګټهانې د تخفیفي پیرودنې دیوې بې واسطې ورکول شوي وي . د افغانستان د بانکوالۍ قانون
- د پور ارزښت لرونکي اسناد : د معاملې وړ د پور سند ،د هغه معادل سند او د معاملې وړ سند دی چې د ګډون یا د تبادلې د ژمنې له لارې د معاملې د پور د بل ارزښت لرونکي سند د حصول حق ورکړي د پور ارزښت لرونکي سندونه د دفتر په ثبت شویو سند کې شامل دی . د افغانستان د بانکوالۍ قانون
- سپارنه :د یو مبلغ پیسو تحویلول دي چې د بانك د دفترونود جاري یا سپما په یو حساب کې شاملېږي .دغه تحویلي د یو تړون پر بنسټ چې د سپارونکي یا د هغه د استازي او بانك ترمنځ ،بل حساب ته د بېرته ورکړې ،لېږدونې په هکله له ګټهانې یا له هغې پرته یا جائزي سره سمدستي او معیادي غوښتنې په وسیله صورت مومي .د افغانستان بانك د بانکوالۍ قانون .

اوس د دې وخت رارسېدلی چې د پیسو د ډولونو بحث ته داخل شو او هر یو تر څېړنې لاندې ونیسو .د اقتصاد د علم پوهان پیسې په بېلابېلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډولونو وېشي چې په دې مورد کې هم یو له بل سره اختلاف لري پیسې په خپله خوښه چې ورته ښه ښکاره شوې تقسیم بندي کړې دي .پوهانو دغه وېش په دوه کتګوریو تقسیم بندي کړی دینوموړي پوهان پیسې په دوه برخو وېشي چې له فزیکي او لیکلو پیسوڅخه عبارت دي چې اوسمهال دا په یو ښکلي خیال بدلې شویاو د پیسو نور ډولونه هم په همدې کې راځي .

زه اوس پیسې په څلورو برخو وېشم چې د پیسو بهترین وېش دی او دغه وېش په لاندې ډول دی :

- سکې
- بانکنوټ
- لیکلي پیسې
- برېښنايي پیسې

www.melitahrik.com 0777 400 116

د پیسو دا ډول وېش د تبادلې عمل ته پراختیا ورکوي له بلې خوا د پیسو د تحلیل په وخت کې اسانتیا رامنځته کوي د پیسو وېش د پېچلي کېدو په موخه نه، بلکې د کار د اسانتیا په موخه ترسره کېږي چې سیاستوال یې باید په نظر کې ونیسي .د پیسو څلور پورتنیو ډولونو په ځانګړو وختونو کې د تبادلې دوسیلې په توګه دنده ترسره کړې ده.کولای شو چې سکې او بانکنوټ د فزیکي پیسو په توګه تر مطالعې لاندې ونیسو ولې د دې دواړو جدا کول د تحلیل لپاره یو بل امتیاز ورکول دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱) سکې: سکې د تبادلې د وسیلې په توګه د ډېر وخت لپاره دنده ترسره کړېده او د اتلمسي زېږدیزي پېړۍ په جریان کې یې حاکمیت درلود .فلزي سکې چې لـه بېلابېلـو فلزاتـو جوړې وې پـه بېلابېلـو سیمو کـې د تبـادلې وسـیلې پـه توګـه دنـده ترسـره کـوي او د سـیمې د خلکـو سـتونزې لـه منځـه وړېچې دا فلزاتکله سپین زرکله اوسپنه او کله نـور فلزات ول چې پـه همـاغو سیمو کې مقتدر ولاو دپیسو په توګه د خلکـو لـه خوا منل شوي وو او تبادلـه پرې ترسره کېده.خو کله چې سره او سپین زر د تبـادلې د وسیلې پـه توګـه رامنځته شول نو تبادلهیې په ډېـر لـوړ حد کـې کـړه او ورسـره د انسـان د ژونـد سطحه هم لوړه شـوه .د دغـو دوو فلزاتـو د هغـو ځـانګړو خصوصیاتو لـه کبلـه چې په خپل ځان کې یې لرل وکولای شـول چې ډېـر وخت پـه دې برخـه کـې تېـر کړي . چې دغه خصوصیات په لاندې ډول دي :

- دواړه فلزات نایاب او کم یابه
- دواړو د لېږد اسانتیا لرله
- دواړه په کوچینو برخو د وېشلو قابلیت لـري پرتـه لـه دې چې وزن یـې کم شي .
- دواړه د زنګ د نه نیولو قابلیت لرلو
- دواړه پرته له تبادلې د زیوارتو په توګه هم کاریدل .
- دواړه ذاتي ارزښت هم لري

فلزي پیسو په اقتصاد ځانګړې اغېـزه لرلـه چې پـه لانـدې ډول یـې تـر مطـالعې لانـدې نیسو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په لومړي ځل تولید له لګښت څخه د دې وسیلې په واسطه بېل شو دا په دې مانا چې خرڅونکو خپل توکي د پیسو په بدل کې خرڅولاو په مقابل کې یې پیسې لاسته راوړلې او د اخیستلو عملیه یې د بر وخت وروسته تر سره کوله چې په حقیقت کې تولید له لګښت څخه په همدې طریقې بېل شو.
- دې وسیلې د زېرمه کولو حد پورته یوړ او ډاډمن یې کړو.
- د تبادلې رامنځته کېدل پرته له تولید څخه .

انسان د تاریخ په اوږدو کې څو ځلېد فلزي پیسو څخه د معیار په توګه کار اخیستی چې له دغو معیارونه څخه په لنډه توګه یادونه کوو :

- د سرو او سپینو زرو دوه فلزه معیار
- د پیسو دوه فلزه معیار د سرو او سپینو زرو په نسبت
- د پیسو یو فلزه معیار
- په بعضې موارادو کې د پیسو مختلط معیار هم په همدې وېش کې راځي.

۲) بانکنوټ : بانکنوټونه په لومړیو کېد کاغذي پیسو په شکل رامنځته شول چې په پخوازمانو کې د یونان خلکو د پور د سند په بڼه کاروو او د رسپتا په نامه یې یادوو . وروسته بیا ترې کاغذي نوټ جوړ شویه حقیقت کې ویلی شو چې بانکنوټ د هماغو پخوانیو اسنادو پرمختللی شکل دی ، کاغذي پیسېد لومړي ځل لپاره په ختیځ کې په اجباري ډول د تبادلې د وسیلې په توګه رامنځته شوې او چینایان لومړني خلك ول چې کاغذي پیسې یې رامنځته کړې په هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې په نړۍ کې بانك شتون نه درلود چینایانو د خپلو ستونزو د رفع کولو لپاره کاغذي پیسې د تبادلې د وسیلې په توګه رامنځته کړې تاریخي شواهد ښیي چې په کال ۸۰۶زیږدیز کې د "فوبیلای قا ان "په وخت کې کاغذي پیسې د نورو فلزاتو تر څنګ رامنځته شوېپه هغه وخت کې چین دې پایلې ته رسېدلې و چې سره او سپین زر نه شي کولای د تبادلې اړتیا پوره کړي او د پیسو دوسیلې د کمښت احساس کېدو نو هغوی دا لاژمه وګڼله چې د فلزي پیسو پر ځای کاغذي پیسې نشر کړي چې لګښت هم پرې کم راځي. ددې پیسو د اعتبار تضمین امپراتور وکړو دې پیسو ګردش او اجباري قبولي لرله .د چین لوی سیاح "مارکوپولو" چې نظریات یې زموږ په هېواد کې هم ډېر د قدر وړ دي په دې اړه وایي ((هېچا د دې جرئت نه لرلو تر څو خپل ژوند په خطر کې واچوي او د پیسو د نه اخیستلو هوډ وکړي )) له دې جملې داسې څرګندېږي چې په هغه وخت کې د پیسو منل یو اجباري امر و که چا نه منلو دا په دې مانا چې د مرګ له ګواښ سره به مخ و .ځکه چې دا د امپراتور امر و.

دا مسئله دلویدیزو پوهانو د ادعا د ردېدو ښکاروندوی ده زما په باور په یونان کې چې کوم اسناد په تبادله کې کاریدل د پور دسند په توګه خلکو ته د منلو وړ و، نه د تبادلې دوسیلې په توګه.د لومړي ځل(۱۶۵۶ز) لپاره بانکنوت په سویدن کې رامنځته شول او د سویدن مشهور پوه "پالم شتروخ "دا ابتکار وکړو .په اسیاییهېوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دا کړنه په نولسمه زیږدیزه پیړۍ کې ترسره شوهخو دلومړي ځل لپاره کاغذي پیسې په چین کې نشر شولې او پرخلکو منل یې هم اجباري ول.زموږ په هېوادکې دا کړنه په کال ۱۹۱۹زیږدیز کې تر سره شوه او په دې وخت کې د پیسو مختلط نظام چې کاغذي او فلزي پیسې وې هم رامنځته شو دکاغذي پیسو رامنځته کېدل په هغه وخت کې یوه لوی نوښت وچې د هېوادونو په اقتصاد کې یې یو حرکت رامنځته کړو. ددې وسیلې د رامنځته کېدو او پراختیا سبب په لاندې ډول دی :

- د سرو زرو د زېرمو د کمښت مخنیوی او ورځ تر بلې د دغه فلز لوړوالی
- د لګښتونو لوړ والی او په دې وسیله نغدو پیسو ته د اړتیا ډېروالي د ټولنې د اړتیا مطابق .

پورتنې سیستمونو کې کاغذي اصلاح شوی سیستم تر ټولو ښه سیستم دی چې په دې سیستم کې پیسې په خپل ذات کې دتبادلې وړ دي.افغانۍ پیسې هم په همدې چوکاټ کې مطالعه کېږي .

۳) بریښنایي پیسې :

- د بریښنایي پیسو نسبي ګټې : بریښنایي پیسې لاندې نسبي ګټې لري :

- نسبت نورو پیسو ته ډېرې په امن کې وي

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سرعت يې ډېر،له نورو پيسو سره د مقايسې وړ نه دی
- په اسانه کارول او ښه ګټه پورته کونه
- له نورو پيسو څخه يې لګښتونه په څو ځلې کم دي
- د انساني اشتباهاتو کمښت
- د وخت مطابق ښه مديريت او معقوليت

- برېښنايي معاملات : لويه پوښتنه دا ده چې برېښنايي معاملات کوم دي ؟ دا معاملات ځانته ځانګړې تعريف لري :

د پيسو هر ډول برېښنايي لېږد بېله پخوانيو طريقو څخه (چك،په نغده ډول او نور کاغذي لارو ته مشابې )د يوې برېښنايي لارېپه وسيله د ساري په ډول د تيلفون،کمپيوټر، ،مقناطيسي نوارونو په وسيله په دې منظور چې يوې مالي موسسې ته اجازه ورکړي تر څو يو حساب کريډت او يا ډبيت کړي .

## د برېښنايي پيسو په توګه د تبادلې د وسايلو ډولونه :

- د پور کارتونه : د پورونو کارتونه د اعتباري کارتونو په څېر دي چې مشتري کولای شي توکي پرې واخلي او تاديه د خپلې بانکي حساب څخه د برېښنايي پيسو په وسيله ترسره کړي .
- د ارزښت د زېرمه کولو کارتونه : دا کارتونه د ورکړې او اعتباري کارتونو په څېر دي ولې توپير يې په دې کې دی چې د ارزښت د زېرمه

www.meliatahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولـو کارتونـه د ثابت مقـدار مبلـغ اسـم لرونکـی دی. د ارزښـت د زېرمـه کولـو عـادي کارتونـه د ډالـرو لـه مخکـې څخـه دځـانګړي شـوي مبلغونـو اخیستل دي چېمصرف کوونکي يې په راتلونکي کې په لګښت رسوي تر ټولو ښه کارت يې سمارټ کـارت دی چې يـو چیـپ لـري او کـولای شـو د اړتیا پر وخت لـه خپـل بـانکي حسـاب څخـه مصرف وکـړو سمارت کـارټ کـولای شـي چـې ای ټـي ایـم ماشـینونو ،شخصـي کمپیوټرونـو او ځـانګړو ټیلفونو په وسیله معاملات ترسره کړي .

- نغـدي برېښـنايي پیسـې : نغـدي برېښـنايي پیسـې د برېښـنايي پیسـو يـو ډول دی چې د انترنیټ په وسیله توکي او چوپړتیاوې پرې اخیسـتل کیـږي يو مشتري کولای شـي چـې پـه يـو بانـك کـې حسـاب پرانیـزي لـه انټرنیـت سره وصـل وي برېښـنايي پیسـو تـه لاس رسـی پیـدا کـړي او خپـل شخصـي کمپیوټر(PC) ته ولېږدوي .
- برېښـنايي چکونـه :دا چکونـه د انټرنیـت ګټـه پورتـه کوونکـو تـه اجـازه ورکوي چې خپل صورت حساب تـه بې لـه دې چې کاغـذي چك ولېـږدوي ورکړه تر سره کـړي د چك ګټـه پورتـه کـوونکي چك پـه خپـل کمپیـوټر کـې لیکي او بل چا ته يې لېږي چې په خپل وار بانك ته لېږل کیږي کـه چېرتـه بانك په دې پوه شي چې چك سم دی نو بانـك د چك پیـدا کـوونکي تـه د حساب لرونکي له حساب څخه ورکړه کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم څپرکی

## د پیسو د سیاست په وړاندې پوښتنې

د پیسو سیاستوال باید لومړی د خپلې دندې د اجرا لپاره د پیسو طرحه جوړه کړي اویا د پیسو په اړه یو ځانګړی سیاست رامنځته کړي خو په لومړۍ مرحله کې باید اساسي پوښتنو ته ځواب ووايي .د اقتصاد په علم کې دا ډول پوښتنې د یوې موخې لپاره د ښه بنسټ د ایښودلو په خاطر ترسره کیږي .دا پوښتنې په لاندې ډول ترسره کیږي خو په یاد ولرئ چې د هرې پوښتنې لپاره ځواب پیدا کول کله سم یا هم کله نا سم وي .تاسو کولای شئ دې پوښتنو ته شپږیزېIH ۵w نوم ورکړئ. پوښتنو ته پاملرنه وکړئ :

I. څه What؟
II. ولې why؟
III. څنګه How؟
IV. چا Who؟
V. کله When؟
VI. چیرته where؟

دا پوښتنې او د دې لپاره ځوابونه کولای شي چې دیوې طرحې یا یو قانون لپاره ښه لاره جوړه کړي .پربږدئ چې په دې اړه لږ بحث وکړم .په دې هم ښه پوهېږم چې دهر یومورد په اړه د خپلې موخې پر اساس دا پوښتنې پیل کړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- څه what؟ :له دې پوښتنې څخه موخه دا ده چې ستاسو موخه څه ده ؟ چې په حقيقت کې دا برخه ډېره اسانه او يا هم ډېره ستونزمنه ده .تاسو بايد خپله کاري موضوع پيدا کړئ او کار پرې پيل کړئ‌تاسو پوهېږئ چې په دې برخه کې تاسو يا ستاسو کاري واحد په ورځو ،مياشتو او يا هم څو کاله کار وکړئ څو هغه موضوع چې درکړل شوې پيدا يې کړئ له هغې وروسته چې د بحث مسئله پيدا کړئ او وکولای شئ چې ستاسو سياست تقويه کړي يا يې اصلاح کړي او يا تېر سياست ته تغير ورکړي، لوړې هڅې دپيسو د سياستوال غوښتنه ده .

په ياد ولرئ چې تاسو له دوه ډوله وخت سره مخامخيږئ :

- په بېړني او چټکه توګه
- په دوامداره او څېړنيز ډول

په لومړي موارد کې د سياستوال لپاره د هغه عمل په مقابل کې چې ولاړ دی د هغه د رفع کولو لپاره ډېر وخت نه لري او کار بايد په چټك ډول ترسره کړي او رامنځته شوې مسئله له مينځه يوسي په دې مورد کې د څه! پوښتنه همدا منځته راغلې مسئله ده چې وخت رامخته کړې ولې د دويمې پوښتنې څه بايد پيدا کړو .په حقيقت کې دا يوه مخکنۍ مسئله ده چې دپيسو سياستوال يې بايد تعقيب کړي .په دې وخت کې د پيسو سياستوال د څېړنوبڼه غوره کوي د پيسو ټول وضعيت تر مطالعې لاندې نيسي چې د پرمختګ ،اصلاح او يا د تعديل لپاره د اړتيا مطابق کار ترسره کړي .په دې کې سياستوال څه ته ادامه ورکوي او څه! دي چې د پيسو وضعيت ته اړين

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي.په یاد ولرئ چې څه ! په راتلونکي پورې اړه لري او تحلیل د اوسنیو قوانینو پراساس چې د پیسو په وضعیت حاکم دي او پرمختګ باید په راتلونکي کې رامنځته شي .

۲- ولې Why؟ : دغه پوښتنه د وخت په لحاظ په تېر ،اوس او راتلونکي پورې اړه لري،د پیسو سیاستوالو د ولې کلمه کارولې ځکه سیاستوال باید خپل حرکت تحلیل او تنظیم کړي . هغه تېر وخت په تحلیل کې نیسي هغه په دې لار کې تولې خلا ګانې او نیمګړتیاوې چې وضعیت د ناورین په لور بیایي او یا ممانعت کوي ښې روښانوي تر څو موخه لا ښه شي تول لوی سببونه تر مطالعې لاندې نیسي هر یو په جلا توګه څیړي او له اغېزو سره یې روښانه وي.اوسنی وخت هم یو رکن جوړوي چې باید د پیسو سیاستوال هغه په نظر کې ونیسي .موږ په کوم حالت کې یو ؟په اوسني وخت کې د تېر او جاري سیاست اغېزې څه دي ؟کوم خنډونه د اوسني سیاست په وجه رامنځته شوي چې زموږ د موخې د لاسته راوړلو څخه مخنیوی کوي ؟ او بالاخره په اقتصاد او د پیسو په حالت یې اغېزې څه دی ؟ زموږ کمزوري ټکي کوم دي ؟ او له کومو فرصتونو مو ښه ګټه نه ده پورته کړې په یوه جمله کې موږ کولای شو د سوات او پیسښ له میتودنو څخه ګټه پورته کړو .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- څنګه How؟: څنګه او څه ډول کولای شو له ستونزو را ووځو او یا نوی سیاست رامنځته کړو په دې اړه سیاستوال کولای شي له لاندې میتودونو کار واخلي :

- له تېرو اشتباهاتو څخه ځان خلاصول او دپیسوله اوسني سیاست څخه د دې ډول کړنو لرې کول .
- د نوو سیاستونو جوړول د دې پر بنسټ :
  - د تېرو لارو سمول او د اشتباهاتو د تکرار مخنیوی .
  - د پیسو د نوي سیاست جوړول او د زوړ سیاست لرې کول .

پورتني دواړه میتودونه په وخت پورې تړاو لري او د پیسو حالتونه روښانویچې په کوم وخت کې له کوم میتود څخه کار واخلي په ډېرو مواردو کې د یو میتود شتون ښه دی لکه د پیسو ریفورم د تیوري په لحاظ تر ټولو ښه میتود دی چې د پیسوستونزې له منځه یوسي ، ولې داسې حالت پېښېږي چې نشو کولای له دې میتود څخه ښه ګټه پورته کړو په دې ډول حالت کې د پیسو سیاست وال په دې مجبورېږي څو یوازې د کمزورو ټکو د اصلاح لپاره اقدام وکړي چې حالت په نسبي ډول ښه کړي ولې دا په دې مانا نه ده چې اصل له یاده وباسي . هغه میتود چې د یوې مسئلې لپاره جوړ شوی وي وکارول شي ډېر ګټور وي او کولای شوو د شرایطو په مساعد والي سره یې وکاروو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې حالت کې د پیسو د سیاست وسایل او له هغوی ګټه پورته کونه ډېره مهمه ده چې سیاستوال باید په دې برخه کې ډېر دقیق کار وکړي او خپل حرکات ښه تنظیم کړي .

د پیسو د سیاست د یوې وسیلې پر ځای د بلې وسیلې کارول ګټه نه کوي، بلکې حالت د ناورین پر لور بیایي او حالت سرطاني کوي. ټولنه د بې ثباتۍ په لور ځي او سیاسي بې ثباتي رامنځته کېږي .نو له دې کبله د پیسو د وسایلو څخه ښه ګټه پورته کونه ډېره مهمه ده چې دا بحث د پیسو د وسایلو په برخه کې مطالعه کوو .

۴) څوك Who؟د څوك څخه موخه دلته د کار دوخت پیل او پای دی زه باور لرم چې دپیسو سیاست د پروژې او پروسې څخه جوړ دی او په اصل کې په یوازې توګه د پروسې او یادې پروژې څخه نه دی جوړ دپیسو سیاستونه په مسلسل او دوامداره توګه نیول کیږي چې دپیل او پای ټکي لري چې په دې برخه کې د پروژې ځانګړتیاوې اختیاروي ولې توپیر یې په دې کې دی چې د دې پای د بل پیل دی او هېڅکله پرې (قطع) کېږي نه .د تطبیق وخت په دې پروسه کې ډېر مهم ګڼل کېږي او سیاستوال باید دا وخت ډېر دقیق په نظر کې ونیسي وخت د پیسو په سیاست کې ډېر مهم دی او یوازې وخت کولای شي چې خبرې وکړي، سیاستوال باید په دې پوه شي چې په کوم وخت کې کوم میتود او کوم سیاست تطبیق کړي .سیاسي ،اقتصادي ،ټولنیز او نظامي حالت د یو سیاست د وخت د ټاکلو لپاره ډېر ګټور وي .په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره ډاډ سره وایم چې په ښو اقتصادي حالتونو،اقتصادي رکود او ناورین وخت کې توپیر لري.یا د جنګ په حالت کې چې ټولنیز ناورین هم وي نظر عادي حالت ته توپیر لري.په ډېرو پرمختیاییهېوادونو کې د پیسو سیاستونه په څو کالو کې تطبیقېږي بې له دې چې توپیر په کې راشي .

د پیسو سیاستونه چې د نړیوالو هېوادونو یا د پیسو سیمه ییزو او نړیوالو موسساتو له خوا جوړ شوي وي د پیسو د سیاستونو د تطبیق د وخت په ټاکلو کې هم رول لري .سیاستوال پر دې مکلف دي تر څو د هغه هېوادونو اقتصادي وضعې وڅېړي چې په هېواد اغېزه لري . لیدل شوي چې د پیسو سیاستونه یو له هغو وسایلو څخه دي چې کولای شي د نوروهېوادونو په وړاندې و کارول شي.په ځانګړې توګه د ګاونډیو د بې وزله کولو سیاست . چې د دې حالت د مخنیوي یوازینۍ لار ښه سیاست جوړول دي .

۵) کله When؟ کله، هغه څوك چې د هغوی لپاره سیاست جوړ شوی دی او یا هغه وي چې د ځانګړو حالتو له کبله نه حمایه کېږيحالات هم په دې برخه کې ډېر مهم دي چې باید په نظرکې ونیول شي د پیسو سیاستوال پوهېږي چې څوك د پیسو د سیاست موخه وګرځوي خو په ټولیز ډول د پیسو د سیاستوال موخه د ټولو افرادو له حقوقو حمایه او د ژوند دښو شرایطو برابرول دي .ولې موخې ته د رسېدو لپاره د انساني خواخوږۍپه ځانګړیو کتګوریو کې ډېر اړینه ده.

www.melitahrik.com 0774001116

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاستوال کولای شي چې د سیاست د وسایلو په مرسته اغېزې په دې برخه کې راولي . په یاد ولرئ چې په دې برخه کې ډېرښت او نه ډېرښت مطرح نه دی،بلکې موخې ته رسېدل د سیاستوال لپاره مهم دي .په ډېرو وختونو کې داسې څرګندېږي چې یو سیاست په ظاهره د ډېرى خلکو ګټې معلومې کړي . ولې له ډېر وخت وروسته دا معلومېږي چې سیاست عامه ګټې خوندي کړي دي . د پیسو د ارزښت ټیټوالی کولای شي چې صادرات ډېراو یا برعکس مولد حمایه کړي په دې حالت کې د پیسو سیاست د تولیدونکو او صادرونکي په چوپړ کې وي په دې برخه کې اساسي موخه د تولید ډېرښت او د بازار موندنې داسانتیاوو برابرول دي خو برعکس کورنۍ مستهلك په خپل حال دی کېدی شي چې د قیمتونو د لوړوالي له کبله مواد کم لاسته راوړي چې د یو شمېر خلکو د ناخوښۍ سبب وګرځي دلته نو د پیسو سیاستوال باید یو بل حرکت سازماندهي کړي تر څو له دې ستونزې ځان خلاص کړي چې ده په خپله جوړه کړې دی .سیاستوال کولای شي چې د کریدټي سیستم په منظموالي سره د ده په خوښه سکتور حمایه کړي کریدټي پالیسي کولای شي چې د ځینومعانعت وکړي او ځینې وهڅوي او ځانګړې ګټګوري خلك تر خپلې اغیزې لاندې راولي . د پیسو د وسایلو په برخه کې په دې موضوع بحث وکړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶) چېرته when؟د پیسو په سیاست کې چېرته څخه موخه ،د تطبیق او اغېزې ځای دی په ټولیز ډول کولای شو چې کورنی سیاست او هغه سیاست چې د بهرنیو پیسو دسیاستونو پر وړاندې جوړ وو په دوه برخو ووېشو . ددغه سیاستونو د تطبیق ځای کېدی شي کورنییا بهرنی وي چې د ځانګړو موخو لپاره حرکت ورکول کېږي د حرکت په لحاظ کېدی شي چې دا سیاستونه حمله کوونکي یا دفاعي وي کورني سیاستونه دواړه برخې لري خو بهرنی سیاست یوازې حمله کوونکی وي چې د نورو هېوادونو د اقتصاد کمزوری کول،فلجول او یا هم په هغو هېوادونو کې د ځانګړو واحدونو تقویه کول دي دغه سیاستونه د پیسو د سیاستونو د وسایلو په مرسته ترسره کېږي او بریالیتوب او ناکامي یې په سیاستوالو پورې اړه لري چې ترکومه ځایه مقابل لوری د دې سیاستونو په اړه معلومات لري .( په افغانستان کې کولای شو چې ډېر داسې سیاستونه ولرو ،پاکستانیان هم په همدې هکله د افغانستان په اړه ځانګړي سیاستونه لري .

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریيم څپرکی

## د پیسو په مدیریت کې د پیسو قوانین

د پیسو مدیریت د پیسو د پالیسو یو له اساسي برخو څخه شمېرل کېږي ، دلته زه نه غواړم چې مدیریت په تخنیکي لحاظ وڅېړم،بلکې غواړم یوازې د پیسو د قوانینو یادونه وکړم چې د پیسو د مدیریت مهمه برخه جوړوي، داسې وګڼم چې د پیسو یو سیاستوال پرې پوه شي په دې قوانینو پوهېدل او په هغې واکمنېدل د یو سیاستوال لپاره اړین دي تر څو له جز څخه کل ته لاړ شي. هغه تجربې چې د افرادو په خوا کې څرخي په ټولیز ډولیې وکاروي .داقوانین په لاندې ډول کټګوري کولای شو. زه د امریکایي لوی لیکوال "برایان " دنظریاتو په رڼا کې خپل نظریات داسې وړاندې کوم :

## لومړی قانون : د ډېربښت قانون

موږ له نعمتونو څخه په ډکه نړۍ کې ژوند کوو چې په کافي اندازه د هغو ټولو لپاره چې په واقعي ډول پیسې غواړي او دې ته مایل وي چې د حاکمو قوانینو د پیروۍ له کبله پیسې لاسته راوړي شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



I. د ډېرښت د قانون لومړۍ پایله : هېوادونه ددې لپاره بډایه کېږي چې د بډایتوب پرېکړه وکړي. هېوادونه په دې خاطر بډایه کېږي چې په دې باور وي چې هغوی د بډایتوب ځواك لري،ځکه چې هغوی په دې موضوع کاملاً عقیده لري او د هغې مطابق عمل کوي،تل داسې کارونه ترسره کوي چې باور په عمل تبدیلوي.تاسو تل خپلو کارو ته په کتو سره وپوهېږئچې ستاسو عقیده په اصل کې څه ده له دې پرته بله لار نه لرئ .

II. د ډېرښت د قانون دویمه پایله : هېوادونه ځکه له بې وزلۍ سره مخامخېږي چې د بډایتوب پرېکړه یې نه ده کړې .

III. څنګه کولای شو چې د ډېرښت له قانون څخه ګټه پورته کړو ؟

- فرض کړئ چې تر اوسه مو کومه تجربه د پیسو په اړه لرله ځانګړی درس مو ترې یاد کړی،او دا تجربه له تاسو سره مرسته کوي تر څو مالي خپلواکي تر لاسه کړی .د دې پر بنسټ موکوم مهم درسونه زده کړي ؟
- تاسو په صداقت تجزیه او تحلیل وکړئ چې تر ټولو لوی خنډ او لوی محدودوونکی باور چې ستاسو د مالي بریالتوب مخنیوی کوي کوم دی . اوس هوډ وکړئ او داسې عمل ترسره کړئ چې تاسو ته هېڅ خنډ نه لری

.

## دویم قانون : د تبادلې قانون

پیسې هغه چاپیریال دی چې خلك په کې کارونه د توکو په تولید او چوپړتیاوې له توکو او نورو چوپړتیاوو سره تبادله کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د تبادلې د قانون لومړی پایله : د پیسې، د ارزښت معیار دی چې خلك توکي او چوپړتیاوې پرې ساتي .
- د تبادلې د قانون دویمه پایله : ستاسو کار د نورو په نظر د تولید عامل یا لګښت دی .
- د تبادلې د قانون دریمه پایله : هغه پیسې چې د عاید په توګه لرئ له ارزښت سره مساوي دیچې نور ستاسو مرستې او ونډې ته قایل دي .
- د تبادلې د قانون څلورمه پایله : پیسې سبب دي نه اغېزه
- د تبادلې د قانون پینځمه پایله : د پیسو د مقدار د ډېرښت لپاره باید د خپل کار ارزښت چې لرې ډېر کړئ په دې مانا چې خپل کار ډېر کړئ .

څنګه کولای شو له دې قانون څخه ښه ګټه واخلو ؟

- خپل سوداګریز او کاري حالت ښه مطالعه کړئ او په دقیق ډول یېښه تشخیص کړئچې کوم کار باید ترسره کړئچې تاسو سره مرسته وکړي څو ستاسو د محصولاتو قیمت او چوپړتیاوو د ارزښت د ډېرښت سبب وګرځي .
- هره ورځ له ځانه پوښتنه وکړئ چې زه ولې معاش اخلم ؟ د ځوابونو فهرست په خپله جوړ کړئاو دغه فهرست له خپلو ملګرو او مسوولینو سره شریك کړئ له هغوی وغواړئ څو په دې هکله نظر درکړي او تاسو ته ووایي چې تاسو کوم کارونه ترسره کړي تر څو احساس کړئ چې له هېواد سره مو ډېره مینه کړیده .



www.melitarrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریيم قانون :د پانگې قانون

تـر ټولـو ارزښـناکه شتمنۍ ستاسـو فزيکـي او روحـي پانگـه ده يـانې ستاسـو ځواك د عوايد په ترلاسه کولو کې :

۱- د پانگې د قانون لومړۍ پايله :تر ټولو ارزښتناکه پانگه ستاسو وخت دی.وخت ستاسو په ټولو هغو توکو کې شامل دی چې تاسو يې خرڅوئاو په ټولیز ډول مو څومره وخت ضايع کړی او له څومره وخته مو گټه پورته کړې،ستاسود عايد د ډېرښت په برخه کې گټور ثابت شوی .د وخت د ضعيف مديريت لـه کبلـه د امريکا پـه صنعت کې ناکامي او د گټې د کمښت سبب دی .په هره څانگه کې ستونزمن کار مديريت او خرڅول دي .د ساري په ډول پس له څو کالو مطالعې په کال ۱۹۲۸ زېږدیز کې دې پايلې ته ورسېدل چېخرڅونکي يوازې شل سلنه وخت په خرڅلاو تېروي يا په بل عبارت متوسط خرڅونکي هر ورځ يوازې يو نيم ساعت خرڅلاو ترسره کوي او پاتې نور وخت په خصوصي خبرو،کتاب يا ورځپاڼو ويلو،تيلفون کولو،بيرون تللو او نور غيري ضروري کارونو ترسره کوي .يانې خپل وخت بې ځايه تېروي .مديران هم له دوی ښه نه دي د مطالعې په پايله کې پنځه نوي سلنه مديران د خپل کاري وخت د ورځې پنځه سلنه داسې کارونه ترسره کوي چې منطقي دليل ورته نه لري او نور ټول وخت په بې ارزښته کارونو تېروي .

۲- د پانگې د قانون دويمه پايله :وخت او پيسې کېدی شي چې په لگښت ورسي او يا پانگونه پرې وشي پيسې او وخت تر يو حده د تبادلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړ دي .کله چې په لګښت ورسپړي بیا په هیڅ صورت بېرته نه راګرځي او په خپلو لګښتونو کې ډوبیږي . لـه بلـه اړخه کولای شي چې پر هغوی پانګونه وکړید هغوی ګټه لاسته راوړي او همدا حالت ادامه پیدا کړي .که دپیسو او وخت په اړه ښه معلومات ترلاسه کړي او ښه ځای کې پانګونه وکړي، نو کولای شي چې ارزښت یې ډېر کړي .د موتورالاد شرکت د خونې مشر دې پایلې ته رسېدلی چې دده د شرکت په هر کارکوونکي که یو ډالر لګښت وکړي د ېرش ډالره ګټه تر لاسه کوي کولای شو چې ووایو چې دغه مبلغ د پانګونې ښه لاسته راوړنه ده چې دغه شرکت کړیده . نور شرکتونه هم دې ورته دعوه کوي او وایي چې موږ هم همدومره ګټه ترلاسه کوو.

۳- د پانګې د قانون درېیمه پایله :ستاسو د پانګې او وخت د ښې پانګونې په سبب ستاسو د خلکو عواید ډېرېږي.د ستراتیژۍد پکار اچولو موخه د عدالت بېرته رامنځته کول دي . دا کار په ټولیزو کړنو او تنظیم پورې اړه لري،خو په هغه صورت کې نه چې هېواد وکولای شي د بېرته ورکړې حد د پانګونې له حده لوړ تر لاسه کړي . په ژوند کې ستاسو شخصي عدالت ستاسو د خلکو روحي او رواني پانګه ده .ستاسو دنده ده چې لـه انسـاني پـانګې ښـه ګټـه پورتـه کـړی او د خلکـو د بېرتـه ورکـړې انـرژي ډېـره کړئ.څرنګه چې د تولید ماشین ستاسو پانګه ده همدارنګه انسان هم روحي او فزیکي پانګه ده په دې شرط چې ښه ګټه ترې پورته شي او وکولای شي چې ډېر توکي تولید کړي .دا میتود باید د خلکو لـه نظره وي او یو سیاستوال یې باید خپل ټول عمر وکاروي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- ځنګه کولای شو چې له دې قانون څخه ګټه پورته کړو ؟

- د پیسو د سیاستوال مسوولیتونه په فهرست کې ولیکئ، دغه لست وڅېړئد مخکیوالي او د کار ارزښت د خپل هیواد له نظره درجه بندي کړئ.
- د هغو موخو فهرست ترتیبول چې د پیسو سیاستوال یې هر ورځ ترسره کوي او مسوولینو ته وسپارل شي او هغوی ته وویل شي هغه موخې چې د ارزښت په لحاظ مهمې دي درجه بندي کړي او وروسته دپرېکړې له مخې په ارزښتناکو موخو لومړی کار وکړي .

## څلورم قانون : د وخت د تنظیم قانون

په ټولنه کې بریالي خلك هغه دي چې د خپلو ورځنیو هوډونو په وسیله اوږد مهال په نظر کې نیسي .هغه تجربه چې د "ډاکتر ادوارد" د هارورډ پوهنتون استاد په کال ۱۹۵۰-۱۹۶۰کې ترسره کړېله ډېرې مطالعې وروسته هغه عوامل چې د یو انسان د مالي بریالیتوب لپاره ګټور دي یو عامل شتون لري چې په نورو برلاسی دی او هغه عبارت دی د وخت له تنظیم څخه .د پیسو سیاستوال باید نظر نورو خلکو ته د وخت تنظیم ډېر په نظر کې ونیسي هغه داسې تصمیمونه ونیسې چې ډېر اوږد وخت ته اړتیا لري او حتا په خپل ژوند کې پایله نهویني .هغه خلك چې لید لوری ډېر ولریمخکې له دې چې بریالي شي د بریالیتوب لګښت د اوږد مهال لپاره ورکوي .نو له دې کبله د پیسو سیاستوال راتلونکو پینځه،لس ،پینځه لس او حتا دشلو کالو فکر کوي .ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادي افراد یا هغه افراد چې مسوولیتونه یې کوچني وي د لرلید خاوندان نه وي .خو په لنډ مهالو او منځمهالو خوشالیو عقیده لري او داسې کړنې ترسره کوي چې د اوږد مهال لپاره منفي اغېزې لري. په یاد ولرئکله چې ورځ د اوږد مهاله پایلو دلاسته راوړلو په موخه پیل کړئستاسو ژوند د زینې په څېر په مالي او ټولنیز لحاظ پورته ځي.اوس چې تاسو د پیسو د سیاست جوړونکي یاست او په ډېر نژدې راتلونکې کې به دې څوکۍته ورسېږئ اویا له ښو لوبو سره مینه لرئ ولې ښه خبره ده چې خپلې هیلې له ځان سره تنظیم کړئ ستاسو د تصمیم نیولو کیفیت لوړېږي او ښې عملي پایلې به لاسته راوړئ .

لومړۍ پایله : هغه خوښي چې ژر له منځه ځي د خپل کار بنسټ مه جوړوئد هغوی وروسته اچول ستاسو بریالیتوب دی .د پیسو د سیاست جوړونکي کوچني حرکات باید تاکتیکي وي ولې ټولې هیلې باید په اخرنیو موخو کې ولټوي .د پیسو سیاستوال د خپل ځان منل ،ځان کنټرولول ،د ژر راتلونکو خوښیو ته لاس پښې وهل فداکاري تر سره کول تر څو د اوږد مهال لپاره ډېر عواید ولري .او له هغو خوښیو څخه تېر شي چې لنډ مهاله وي یانې د یو کار لپاره اوږد مهال پلان وټاکیدېږې لویې هیلې په کې ترلاسه کړي چې ستاسو خپل وخت تنظیم کړي.

دویمه پایله :د خپل ځان څخه ساتنهد یو شخص اوږد مهالهبریالیتوب ډاډمنوي دځان ژغورنه ډېر وخت وړاندې د" البرت هوبار " لخوا داسې تعریف شوې : په هغه څه قادرېدل چې تاسو یې غواړئ چې ترسره یې کړئ خو اړینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ده چې دا کار مو خوښ وي او که نه باید هغه ترسره کړئ ."هوبرت" یو سوداګر و یوولس کاله یې په دې اړه څېړنه وکړه هغه په زرګونو بریالي انسانان مطالعه کړل او په اخر کې دې پایلې ته ورسېدچې بریالي خلك هغه دي چې داسې کارونه ترسره کوي چې ناکام خلك یې نه خوښوي او هغه کارونه کوم دي چې ناکام خلك نه غواړي ترسره یې کړي :

- له خوبه ژر راپاڅېدل،ډېر سخت کار ترسره کول او تر ناوخته کار کول.
- ولې بریالي خلك دا کارونه هر وخت ترسره کوي سبب څه دی ؟ ځکه بریالي خلك د مطلوبو پایلو غوښتونکي وي او ناکام خلك ډېرپه روښونو پسې ګرځي ناکام خلك ډېر په هغو کارونو پسې ګرځي چې ډېر فشار ونه لري .

بریالي خلك په هغه کارونو پسې وي چې دوی موخې ته رسوي . ستاسو مخکې ورکړه د لګښتونو او د موخو د تر لاسه کولو تر وخته د لګښتونو ورکړه ستاسو د موخې د ترلاسه کولو نښه ده .

درېیمه پایله : ایثار (قرباني ،تاوان ګالنه)په لنډ وخت کې هغو ورکړو ته ویل کېږي چې د ډېر وخت لپاره امنیت او اسانتیا رامنځته کوي . په دې ځای کې د ایثار او فداکارۍ اصطلاحا ت ډېر مهم دي د پیسو سیاست جوړونکی د یو اسانه کار چې د وسوسې په بڼه وي مقاومت کوي همداسې سیاستوال ځان په دې مکلف ګڼي تر څو سخت او لاژم کارونه ترسره کړي د پیسو سیاست جوړونکي د ښې راتلونکېدجوړلو لپاره کارتر سره کوي هغوی خپل وخت بېځایه نه تېروي چې په حقیقت کې د پیسو د سیاست جوړونکي ښه لید

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوری ښیي .هغه داسې هوډ کوي چې د هېواد راتلونکې بهتره وي اود خلکو د ژوند سطحه لوړه شي .

څلورمه پایله : څنګه کولای شو دا قانون عملي کړو ؟

الف – د پیسو سیاستوال د اوږد مهال لپاره دپیسو پهتولو حوزواو اقتصاد کې ځانګړې پرېکړې او تدابیرونیسي او د پیسو د سیاست په چوکاټ کې یې عملي کوي او فکر کوي چې پنځه کاله وروسته به چېرته یو او قدم به څنګه اخلو او همداوس باید څه ډول قدم واخلو .

ب– سیاستوال غواړي پوه شي چې په کال کې باید څومره مقدار عواید شتون ولري چې اوسني عواید ډېراو نور عواید په راتلونکي کې وساتي .

## پنځم قانون : سپما

په یو هېواد کې مالي خپلواکي هغه وخت رامنځه کېږي چې د عوایدولس سلنه سپما کړي .یو ډېر مهم کار چې د پیسو سیاستوال یې باید هېواد لپاره وکړي د هېواد عوایدو یوه برخه سپما کړي .بشري ټولنه هغه وخت پایداره او خوشبخته کېږي چې هلته د سپما دود لوړ وي . اوسنۍ کړنې دي چې راتلونکی امنیت او امکانات تضمینوي .

لومړی پایله :لومړی ځان ته حقوق ورکړه همدا نن پیل وکړه او لس سلنه عاید سپما کړه او هغه ته لاس مه ور وړهچې دا کار د شتمنۍ د اوږد مهاله جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدو په مانا دهاو له هغه ځخه هيڅ ګټه مه اخله چې د راتلونکي په اړه ډاډمن شې .دې ټکي ته پام وکړئخفه کوونکی ديولې حقيقت لري د ساري په توګه که تاسو د يوې ناورې ورځې لپاره سپما وکړئ،ډاډمن اوسئ چې ډېر ژر به دا ورځ پيل شي که تاسو په قصدي ډول پيسې دکومې ورځې لپاره مو چې ټولې کړې هغه ورځ به ډېر ژر راشي او هغې ته به اړتيا پيدا کړئ او هغه ورځ به له ټاکلي وخت ځخه مخته راشي د دې لپاره چې تاسو په دقت پروګرام جوړ کړی دی دقت د سياستوالو د دندې اصل دی او نشو کولای له هغه سترګې پټې کړو او يا پرې ملنډې ووهو .يوه بله ډېره مهم نقطه داده چې لومړی خپل ځان ته حقوق ورکوئ تر ټولو مهه خبره دا ده چې تاسو لومړی خپل ځان مجبوروئ چې په نوي سلنه خپل ژوند مخ ته يوسئاو د هېوادوالو ژوند تنظيم کړئاو ډېر ژر به په دې روش عادت شئ. کله چې تاسو لس سلنه سپما او په نوي سلنه خپل ژوند مخ ته وړئ.ډېرو هېوادونو له لسو پيل کړی چې بيا وروسته پينځلس ،شلو ته لوړ شوي . په پايله کې د هغوی مالي ژوند ډېر تغير کړی ډاډمن اوسئ چې ستاسو ژوند به هم ډېر ژر تغير وکړي ناوخته شوی نه دی همداوس پيل وکړئ . د پيسو سياستوال د پيسو په سياست کې د سپما پاليسو په عملي کولو سره د پانګونې هسته جوړ وي .

## شپږم قانون : مال ساتنه

مهمه نه ده چې ځومره عايد لري مهمه دا ده چې ځومره سپما کوېچې دا عامل ستاسو راتلونکی ډاډمنوي .ډېر هېوادونه د ژوند په دوران کې ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيسي لاسته راوړي .بعضې وخت د پرمختګ په دوران کې له حده ډېر تېرى کوي اوله توقع څخه پرته ډېرې پيسې لاسته راوړي .له بده مرغه هغوى د اوبو پر سر ځي او هغوى په دې باور وي چې بريالیتوب يې د مهارت او قدرت له کبله دى او له هغې يې ښه ګټه پورته کړې خو په ډېرو مواردو کې يې سبب د اقتصاد پرمختګ او يا د بلې ځانګړې ځانګې پرمختګ وي خو فکر کوي چې په اوسني وخت کې ډېر عايد لري تر ډېره وخته به همداسې وي پس له دې چې څومره عايد ترلاسه کوي په لګښت يې رسوي او په دې فکر کې وي چې تل به عايد لري ستاسو ښه کار هغه دى چې څومره پيسې ګټې او يوه برخه يې له ځانه سره ساتي برياليي هېوادونه له ځانه سره يو مقدار پيسې ساتي د پرمختګ په وخت کې خلکو ته په ټيټ سود پور ورکوي او کله چې کاري او اقتصادي وضعه خرابه وي بايد سپما ولري چې دا کارونه د خليج هېوادونهډېر تر سره کوي .

څنګه کولاى شو له دې قانون څخه اوس ګټه پورته کړو ؟

الف : د خپل د هېواد د واقعي شتمنۍ ارزښت حساب کړئ . د ټولو توکو فهرست برابر کړئله دې وروسته ټول حسابونه د سپما ،روان او باوري کارتونه مو جمع کړئ او پوررونه ترې لرې کړئ تر څو واقعي شتمنۍ مو معلومه شي .

ب : ځانګړې شتمنۍ مو په هغه کلونوکې چې کار مو کړى او دا شتمنۍ مو لاسته راوړې ووېشئحاصل يې ستاسو کلني عايد دى .ايا له دې مبلغه راضي ياست ؟ که نه همدانن پيل وکړئ او خپله موخه ترلاسه کړئدا امر په حقيقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د زېرمو د سیاست د طرحې په ځانګړې توګه د اسعاري زېرمو بنسټ جوړوي په اصل کې داحرکت دې ته متوجې دی چې له شتمنۍ ګټه پورته کولو ته لومړیتوب ورکوي نه په اجاره ورکول . کولای شو په دې اړه د افغانستان مثال د نمومې په ډول راوړو .

## اووم قانون پارکینسون :

لګښتونه تل د ډېرښت په حال کې دي تر څو عوایدو ته ورسېږي .مصارف صعودي مسیر لري تر څو عواید په یوه ځانګړي ټکي کې راګیر کړیاو دا کړنه مسلسله وي تردې چې دلګښت ټکی عاید ته ورسېږي. نن دا په یو نه ماتېدونکي قانون تبدیل شوی، هېڅوك یې سیالي نه شي کولای .د پارکینسون د شتمنۍ د راټولولو له مشهورو قوانینو څخه شمېرل کېږي دا قانون د یو انګلیسي لیکوال "نورثکوت پارکینسون" له خوا وضع شوی او دا قانون روښانوي چې خلك ولې غریبېږي .خو مهمه نه ده چې څومره لري خو هغوی تل هڅه کوي چې څومره عاید لري ټول په لګښت ورسوي او حتا ډېر لګښت ترسره کوي اولګښتونه یې د عاید مخنیوي هم کوي د ډېرو خلکو اوسني عوایدڅو برابره ډېر دي له هغه څخه چې د دې د کسب په لومړۍ ورځ یې ترلاسه کوو .خو اوس د پیسو یو واحد ته اړتیا لري چې تر څو اوسنی ژوند پرې مخ ته یوسي نو ځکه اړینه نه ده چې څومره عاید لري، بلکې مهمه دا ده چې د دوی ژوند هیڅ وخت بشپړ نه شو .

www.meltahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـومړۍ پایلـه : مـالي خپلـواکي د دې قـانون پـه وسـیله ترلاسـه کیـږي .د پارکینسون د قانون په اړه پوهان وایي چې دا قـانون عایـد لرونکـي تـه د دام او تلې په مانا دی .داقـانون ویـونکی د دې امـر دی چې پارکینسـون د پـورونـو د ورکړې دایره ،مالي ستونزې حتـا پـه لویـو مقدارونو ،محرومیتونـه پـه لـوړه کچه ناامیدي ده. خوشبختي هغه وخت راځي چې په خپل ځان کې قوت پیـدا کړئتر څو د لوړو لګښتونو په مقابل کې مقاومت وکړئهمدلته ده چې د پیسـو راټولول پیلیږي.

دویمه پایله : کـه تاسو پرېږدئ چې لګښت مـو لـه عایـد څخه کـم پرمختـګ وکړي او باقي پیسې سپما او پانګونه وکړئ،نو په ژوند کې به مالي خپلواکي تر لاسه کړئ.

څنګه کولای شو له دې قانون څخه ګټه پورته کړو ؟

الف – فرض کړئ چې ستاسو مالي ژونـد د یـو شرکت پـه څېـر خراب دی چې تاسوېې نیولي یاست یو مالي بنسټ فورا جوړ کړی ټول غیـر اړیـن لګښـتونه لرې کړئد ځان لپاره ځانګړې بودجه وټاکئچې د هرې میاشتې لپـاره دا بودجـه اړینه ده او هوډ وکړئ چې خپل لګښتونه په موقت ډول محدوده کړئ.په دقیـق ډول ټول لګښتونه وڅېړئاو په اړه یې پوښتنه وکړئ او داسې فکـر وکـړئ چـې د بل چا لګښتونه تحلیل او وڅېړئ،د لګښتونو کمښت مـو ډېـر کـړئ چـې تـر راتلونکو دریو میاشتو دا کمښت لس سلنه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب- هوډ وکړئ چې د خپلو عوایدو پنځوس سلنه په پانګونې او سپما وتړئ او دا یاد کړئ چې په نورو خپل ژوند مخ ته یوسئدا کار سبب کیږي چې په پنځوس سلنه مو چې ځنګه خوښه وي ژوند ترسره کړی او دا کار تل ترسره کړئ .

## اتم قانون :د دریو قانون

ستاسو مالي خپلواکي په دریو ستنو ولاړه ده :سپما ،بیمه او پانګونه

د مالي سیاستوالو یو مهم مسوولیت دا دی تر څو د هیواد لپاره یو قوي مالي سنګر رامنځته کړي او له دې سنګر څخه د مالي ناامنیو د مخینوي لپاره ګټه پورته کړي،دې موخې ته د رسیدو لپاره هغه ته پکار دي تر څو د دریواړو برخو تر منځ یو تاکلی نسبت رامنځته کړي .

لومړۍ پایله :د غیر منتظره وخت په مقابل کې باید سپما دوو څخه تر شپږو میاشتو پورې د لګښت قابلیت ولري .زموږ باید لومړی موخه همدا وي که په شپږو میاشتو کې له بدحالت سره مخ شو،باید په شپږو میاشتو کې وکولای شو یو کار ترسره کړو او په دې وخت کې باید سپما تنظیم کړو .چې دا کارستاسو روحیه تقویه کوي د نفس پر وړاندې مو ډاډمنوي . په دې برخه کې د زیرمو جوړول په لومړیتوب کې قرار لري او د پیسو سیاستوال باید په دې اړه صرف نظر نشي .مالي سپما د پیسو سیاستوالو ته دا امکان ورکوي څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کار ترسره نه کړي چې دی ورته ميلان نه لري او خپل سياست په بنه توګه عملي کړي . ( په دې هکله د چين هېوادبېلګه راوړلای شو ) .

دويمه پايله :د پيسو سياستوال بايد په دې ډاډ من وي چې د ستونزې په وخت کې له سپما ګټه پورته کړياو په حقيقت کې هېواد يې بيمه کړی وي (کولای شو په دې اړه د امريکا ددولت حرکت د ليمن برادرز بانك او ځو نورو امريکايي شرکتونو مثال ورکړو) .

درېيمه پايله : د شتمنۍ د ټولولو اخرنۍ موخه دا چې عايد د پانګونې اخري ټکي ته ورسېږي .ساده او ګټوره مالي ستراتيژي دا ده چې په ټول ژوند کې پيسې سپما او پانګونه پرې وکړېدا ډول ستراتيژۍ ښې او ډېرې ګټورې دي .

څنګه کولای شو له دې قانون څخه ګټه پورته کړو ؟

الف –د پيسو سياستوال بايد په دې فکر وکړي چې که عايد پرې شي، نو سپما بايد وکولای شي د کار د جريان لګښتونه پوره کړي،نو له دې کبله بايد همدا اوس سپما پيل کړئچې دا کار د پيسو په سياست کې لومړيتوب او ځانګړی ځای لري .

ب – هېواد بايد د پيسو د سياستونو په وسيله د شرکت په څېر بيمه شي او دا کار بايد د دريو د قانون په وسيله تر سره شي.ياني سپما وکړي،پانګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي او بیمه شي .فکر کوم چې دا یو ساده فورمول دی تر څو د اعتماد عنصر ته ورسیږو.

ج – که د پیسو سیاست جوړونکي تر اوسه دې ته نه وي متوجې همدا اوس باید متوجې شي فکر کوم ناوخته شوی نه دی کولای شي د نورو په څیر له دې فورمول څخه ګټه واخلي او موږ هم کولای شو دا فورمول په خپل شخصي ژوند کې تطبیق کړو .

## نهم قانون : د پانګونې قانون

د پانګونې قانون،خپل ځانته فورمول لري . لکه څرنګه چې د پیسو سیاستوال تل د پیسو په سپما پسې وي د پانګونې په اړه هم باید ډیر دقت وکړي دا موخه کولای شي د پیسو د سیاست دوسایلو په طریقه ترلاسه شي .په اوږدمهاله پانګونې کې تېزوالی د اقتصادي نظریاتو استازیتوب کوي .د پیسو سیاست جوړونکي د کریډیټي سیاستونو په جوړولو سره کولای شي د پانګونې ښې موکې رامنځته کړي .دا یو قبول شوی اقتصادي فورمول دی چې وړاندې له پانګونې باید ټول جزیات مطالعه شي او ټول اطلاعات باید دقیق تر لاسه شيسیاستوال کولای شيپه هغه صورت کې چې د قیق ارقام او اطلاعات شتون ونلري له پانګونې ډډه وکړیاو د پیسو د وسایلو څخه چې د سپما د سرچینو په توګه کار اخیستل کیږي مخنیوی وکړي.

لومړۍ پایله : د پیسو په اړه اسانه کار د پیسو له لاسه ورکول دي.

www.melitahrik.com 0777 400 118

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ننني نړۍ کې چې سیالۍ په کې شتون لري د پیسو تر لاسه کول ډېر ستونزمن کار دی او دپیسو له لاسه ورکول تر ټولو اسانه کار دی . جاپانیان په دې اړه مشهوره خبره لري : د پیسو لاسته راوړل د میخ په وسیله د یو ځای راویستل دي، خو له لاسه ورکول یې د ریګ پر سر د اوبو اچول دي .د پیسو سیاستوال باید په دې پوه شي چې که پیسې له لاسه ورکوي په لومړي قدم کې باید په دې کې ګډون ونکړي او دا اصل ډېر مهم دی او دا باید له ځانه سره ولیکي او له هغه ښه ګټه پورته کړي .تل یې باید په یاد ولري او ښه یې یاد کړي او دا ساده ټکی کولای شي لویه اغېزه ولري او دهېواد د پیسو په اړه داسې فکر وکړي چې د ده د ژوند یوه برخه ده .د پیسو سیاستوال باید په میاشت،اوونۍ،او یا کال کې هڅه وکړي څو د سپما او پانګونې لپاره یو مقدار پیسې لاسته راوړي . هغه وخت غیر قابل د تعویض دی او د ژوند څخه هغه ګران وخت د تل لپاره له لاسه ورکړي.که وکولای شي چې د پیسو د لګښت مخنیوی وکړي د دې پر ځای چې هغه له لاسه ورکړي.کولای شي په دې کار ډاډمن شي چې مالي امنیت یې ترلاسه کړی مهرباني وکړئ د ښو سیاستونو په وسیله پیسې له لاسه مه ورکوئ .

یو شمیر خلك فکر کوي چې کولای شي له هر ډول اړتیاوو څخه ووځي، خو دغه فکر د دوی د ناقص عقل یوه برخه ده او په هغې باید تکیه ونکړي .

د پیسو سیاستوال باید په دې باوري وي چې ناپوهي او پیسې ژر یو له بل څخه بېلېږي. کولای شو چې په دې اړه ډېرې بېلګې راوړو چې لسګونو وار زموږ هېواد له دې سره مخ شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویمه پایله : پیسې په مسلکي ډول په پانګونه کې وکاروئځو له خپلو پیسو بریالۍ کارنامه ولرو .

ستاسو موخه باید د پیسو لګښت پانګونه له افرادو،موسیساتو او دولتونو سره وي چې د پیسو په اړه بریالۍ کارنامې لري چې ستاسو ګواښ تر یو حده کموید معقولو تدابیرو په وسیله پیسې له لاسه مه ورکوئ که چېرته دا احساس مو پیدا کړو دې قاعدې ته رجوع وکړئ او هوډ وکړئ څه چې لرئ ښه ساتنه ترې وکړئ .په پانګونه کې باید عاطفي برخورد ونه شي عاطفي پانګونه یوازې په خیریه موسیسو کې ترسره کېږي.همدارنګه پانګونه باید په سیاسي ساختار کې ونشي او د پیسو سرچینې باید په هغو پروژو کې ونه لګول شي چې په سیاسي ساختار کې دخیلې وي.پانګونه یوازې یوه قاعده پېژني:سم حرکت د پانګونې په برخه کې او ډېره ګټه لاسته راوړل .په دې قاعده کې تور او سپین یو دی او هر یو چې ډېره ګټه راوړي هماغه بهتر دی هېره باید نکړو چې په دې ګټه کې معنوي ګټه هم داخله ده .د پیسو سیاستوال باید دې ټکې ته هم پاملرنه وکړي .

څنګه کولای شو له دې قاعدې ګټه واخلو ؟

الف –د پیسو سیاستوال باید په دې موضوع فکر وکړيچې هېواد یې تر اوسه د مالیې او پیسو په اړه کومې تېروتنې کړیدي.داتېروتنې کومې دي؟او کوم ګډ ټکي لري او له هغو مو څه زده کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ياد ولرئ کله چې يوه مسله دقيقه مطالعه کړئاو له هغې درست تحليل وکړئ په يقين سره تاسو ستونزه درك کړې ښه تشخيص ستاسو د راتلونکي برياليتوب نښه ده.چې دامسئله د پيسو د سياستوالو تر ټولوروښانهکار دی
.

ب –يوازې په هغو کارونو چې پوهېږئ او باور پرې لرئ پانګونه په کې وکړئ .د پانګونې وړاندېزيوازې له هغو خلکو ومنئ چې په مالي لحاظ بريالي وي (افراد ،موسيسات،دولتونه). ښه خبره ده چې د افرادو دې خبرې ته پاملرنه وشي :ښه خبره ده چې خپلې پيسې له ځان سره وساتئ،تر څو چې نامطمين خلکو ته يې ور نکړئاو دهغې له لاسه ورکولو احتمال ولرئ او په ټوله کې خپلې پيسې لاسته رانه وړئ.پيسې له ډاډمنو خلکو سره وساتئ .په دې کې د اطمينان قاعده مطرح ده او د سياستوالو اصلي کار دی .

## لسم قانون : مرکبه ګټه

د پيسو دقيقه پانګونه د مرکبې ګټې د قانون څخهپه استفادېسره يوه بله لار د شتمن کېدو وي.هغه څوك چې په بانکي سود باور لري،مرکب سود د بشر په تاريخ کې لويه پديده ګڼي ."البرت انيشتين "مرکب سود د ټولنې تر ټولو لوی ځواك ګڼي.د مرکب سود قاعدې ساده ولېپه تعجباور ډول ميدان ته داخلېږي او په هغه صورت کې چې : په دې کې ۷۲له ميتود څخه کار اخيستل کېږي او څومره وخت نيسي چې پيسې د سود په هر نرخ دوه برابره شي .ډېر ساده ۷۲عدد د سود په نرخ وېشو.د ساري په ډول که له پانګې مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اته سلنه سود اخلئ۷۲عدد په اتو وویشئنهه لاسته راځي د نهه عدد ښيي چې په اته سلنه سودسره ستاسو پانګه په نهو کالو کې دوه برابره کېږي.په دې کې سیاستوال کولای شي چې معین کړي چې په کوم کې دهېواد ګټه ده پانګونه او که په مرکب سود کې د پیسو ورکول او یا دواړه په یو مناسب تناسب .

لومړی پایله :د مرکب سود کلید ،د پانګې بېلول او هغې ته لاس نه وروړل کله مو چې راټولول پیل کړل او پرې مو ښودل چې وده وکړي باید هیڅ وخت ورته لاس ور نه وړئاو په هیڅ سبب هغه په لګښت ونه رسوئاو که دا کار مو وکړو د مرکب سود ځواك له لاسه ورکوئکه څه هم نن ډېر لږ مقدار په لګښت رسوي ولې هغه څه چې له لاسه ورکوي وروسته په لوی مبلغ بدلېږي .

د موضوع د روښانتیا لپاره لاندې مثال ته پاملرنه وکړئ :

یو شخص چې منځنیعاید لري له ۲۱کلنۍ څخه تر ۶۵کلنو پورې یې د میاشتې ۱۰۰ډالره پانګونه کړې .د مرکب سود له نرخ څخه یې ګټه پورته کړې په لس سلنه، اوس مهال په کور ناست دی یا تقاعد شوی ۱۱۱۸۰۰۰ډالره لري .په عربیهېوادونو کې دولتونه له دې میتود څخه ډېر ګټه تر لاسه کوي په دېهېوادونو کې د پیسو سیاستوال چې د هېوادونو ملي اقتصاد نشي کولای دا پیسې جذب کړي او بلې خوا له فرصتي لګښتونو وتښتي په نړیوالو بانکونو کې په مرکب سود ورکوي .

ښنګه کولای شو له دې قانون څخه اوسمهال ګټه پورته کړو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف – همدا اوس د پانګوني میاشتنی منظم حساب پرانیزئاو خپل ځان مقید کړئتر څو تر راتلونکو پنځو ،لسو او یا شلو کالوپه موده کېیو ثابت مقدار پیسې په پانګونه کې وکاروئ او یا کولی شئ چې یو ښه شرکت وټاکئاو خپله پانګه ورته ورکړئچې څو کاله په کې کار وکړئ.پس له څو کاله وروسته به تاسو وونیئ چې ستاسو په پیسو کې څومره ډېرښت رامنځته شوی دی.

ب –تل هغه لار تعقیب کړئچې پیسې په ازاد ډول په پانګونه کې وکاروئ،تر څو د مرکب سود په اندازه وده وکړیهوډ وکړئ مالي خپلواکي د اوږد مهال لپاره تر لاسه کړئ لنډ مهاله خوشالي له لاسه ورکړئ .بې تجربې سیاستوال په ژر راتلونکو بریالیتوب پیسې تړي .د پیسو سیاستوال د دې ډول سیاستوالو له ډلې نه شمېرل کېږي.د پیسو په لوبه کې ژر تېرېدونکي حرکات د پیسو په میدان کې کېدی شي چې تاکتیکي وي او موخه هماغه اوږد مهاله چې په ستراتیژۍ کې وي د پیسو سیاستوالو ته د قانون ښه لري .ولې په یاد ولرئ په هغه صورت کې چې تاسو کولای شئد مرکب سود له قاعدې ګټه پورته کړئ چې په مخ کې مو خنډ شتون ونلریاو دویم د پیسو کارول په تولید او نورو برخو کې امکان ونلریاو یا هم ګټه له نورو لارو نسبت دې قاعدې ته کمه وي .غواړم تاسو ته یې په یاد راولم د پیسو قاعده شتون لري : کله چې پیسې راټولوئ له اقتصادي واحدونو سره یې کېږدئچې تاسو پرې ډاډمن یاستخو کله مو چې پیسې راټولې کړې هغو خلکو ته یې ورکړئ چې له تاسو ښه کار کوي چې دا یو اصل دی . چې دا اصل باید د پیسو سیاستوال جدي په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ونیسي ددې اصل په وسیله د پیسو سیاستوال دا ټاکیچې څنګه د پیسو له سرچینو ګټه واخلي .چې دا کار د پیسو سیاستوال ته لاره اسانوي په دې ځای کې د پیسو سیاستوال باید چې څنګه له دې اصولو ګټه پورته کړي .

## یوولسم قانون : د توکو راټولول

هر لوی مالي بریالیتوب،ډېرو وړو کوښښونو پورې تړوا لري چې باید ترسره شي،کېدی شي چې دا کوښښونه ډېر کوچني وي او بعضې خلك هغه ونه ویني او یا ورته قایل نه وي.د مالي خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره کوچنیو کوښښونو ته اړتیا ده شتمنۍ د راټولو لپاره باید مالي نظم او کار پسې وګرځي.په پیل کې ستاسو کار کوچنی تغیر خوري ولې د اوږد مهال لپاره ښې پایلې لري .

لومړۍ پایله : کله چې سپماوې راټولې شي او داسې حرکتونه پیل شي چې تاسو د مالي موخو په لور رهبري کړي.په دې قاعده کې د حرکت اندازه د بریالیتوب لوی راز دی دا په دې مانا چې د کار پیل ډېره انرژي غواړي، خو کله چې کار پیل شي بیا دومره انرژي نه غواړي .د پیسو سیاستوال باید پرې نه ږدي چې دا پروسه ودرېږي، ځکه بیا پیلول یې ډېر ستونزمن او سخت وي .دلته که د شتمنۍ د سرعت اندازې ته د شتمنۍ د درجې نوم ورکړم ډېر اهمیت لري . د دې سرعت معیار یوازې سیاستوال او د هغوی ټیم ټاکلی شي

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویمه پایله : متر په متر کار کول ډېر سخت ویولې اینچ په اینچ کار کول اسانه وي .

څنګه کولای شو له دې قانون څخه ګټه واخلو ؟

الف –اوږد مهاله مالي موخه ځانګړې کړئ،هوډ وکړئ او یو قدم مخکې لاړ شئ دخپلو موخو په لور لومړی قدم اخیستل ډېر سخت وي د خپل ځان ساتنه وکړئپه پخوانیو قدمونو وانه وړئ.

ب –کولای شئ چې داقانون په نورو برخو کې هم تطبیق کړئدمثال په ډول هڅه وکړئ چې هره ورځ له انټرنیټ څخه یوه پاڼه ولولئ او د مالي مسایلو په اړه نوي معلومات تر لاسه کړئ او یا نور کارونه ترسره کړی.

## دوولسم قانون : مقناطیسي قانون

هر څومره چې پیسې ډېرې سپما یا راټولې کړئپه ژوند کې مو ډېرې پیسې جذببږي.

مقناطیسي قانون ۵۰۰۰زره کاله وړاندې لیکل شوی دا قانون ډېر وخت په ژوند کې په بریالیتوب او ناکامی،او ځانګړې توګه په مالي حوزه کې بحث کوي . پیسې هغه ځای ته ځي چې مینه او احترام ولري هر څومره چې د پیسو په اړه ښه او مثبت احساس پیدا کړي همدومره یې د پیدا کېدو موقع په لاس درځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ پایله :کولای شو د پیسو په ښو کارولو سره ډېر امکانات ترلاسه کړو امکانات د اوسپنې په څېر چې د مقناطیس له خوا جذبېږي همداسې پیسې، پیسې جذبوي .له دې کلمو څنګه پایله تر لاسه کولای شو ؟ فکر کوم چې یوه دنده د پیسو د سیاستوال دا ده چې د زېرمه شویو پیسو لپاره د کار ځای پیدا کړي،اقتصادي قوانین حاکموي هغه پیسې چې زېرمه ویاو هغه په کار ونه لوېږي،نو د هېواد لپاره لوړ لګښتونه لري .په دې اړه غواړم تاسو تهیو ښه مثال وړاندې کړم :"راکفلر " یو امریکایي ملیاردر دی په لومړي سر کې هغه د دفتر یو کارمند و او ۳,۷۵ډالره معاش یې لرلوچې نیم یې کلیسا ته ورکولو پنځوس سېنته یې سپمولو دا لوی مبلغ نه و ولې یو ښه پیل و، خو کله چې پنځوس کلن شو د نړۍ شتمن انسان و .

دویمه پایله : پیسې،پیسې راوړي .

کله چې خپل ځان له لګښتونه څخه منع کوئاو ځان په خپله ساتئهر څه چې لاسته راوړئ تمرین یې کړئ او یو مبلغ سپما کړئ خپل ځان او نورو ته وښایاست چې پیسو ته ارزښت ورکوی.یو وخت یو شخص له بانك څخه د پور غوښتنه وکړه بانك ده ته د پور ورکولو په وخت وویل چې د یو ډالر پر وړاندې د پینځو ډالرو توکي راوړه دا شخص ډېر متعجب شو .وروسته پوه شو چې دا نسبت معمول دی بانکونه له هغه چا چې باوریزه سابقه ونلري غوښتنه کوي .خو کله چې په بانك کې سابقه پیدا کړي نو بیا د یو ډالر پر وړاندې یو یا دوه ډالره توکي اخلي .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تاسو یو غریب هېواد لرئاو د کارونود مختته وړلو لپاره سرچینو ته اړتیا لرئنو اړ یاست څو سرچینې لاسته راوړئ او ددې لپاره بهانې جوړې کړئخو کله چې شتمن شوئ نو بیا دا عمل نه ترسره کېږي .کولای شو چې د چین هېواد مثال ورکړو .

د پیسو سیاستوال باید خپل ډېر وختدمالي سرچینو چې کم قیمت ولري ښه وخېړي او د اوږد مهال لپاره یې وکاروي ، د سیاست لاندې د سرچینو پیدا کول (په هر قیمت) او له هغې ګټه پورته کول په همدې سیاست کې ملي فکردی .ملیونران په هره میاشت کې شلو څخه تر دېرشو ساعتو فکر او د مالي حالاتو په اړه مطالعه کوي . خپل حسابونه په دقیق ډول پروګراموي او تنظیموي یې هغوی مخکې له پانګونې او یا لګښت څخه دقیقه څېړنه تر سره کوي په پایله کې د هغوی مالي هوډونه له عادي افرادو ډېر ښه وي،چې ډېر ژر او اجباري پرېکړه کوي .

څنګه کولای شو له دې قانون څخه ګټه واخلو ؟

الف- فرض کړئچې له دې وړاندې مو یوه لویه مالي بریا ترلاسه کړې ده .له پیسو،پانګونې او لګښتونو سره مو داسې عمل وکړئچې په شخصي لحاظ شتمن یاست په پایله کې د ښه هوښیار مالي فکر له کبله مو ډېرې پیسې ترلاسه کړیدي .

ب –هره ورځ هره اوونۍ او هره میاشت خپل مالي حالت وڅېړئاو دخپلې شتمنۍ لپاره د ښې پانګونې لپاره ښه پرېکړه وکړئ هر څومره چې ډېر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او فکر د مالي مسایلو لپاره ورکړئ ډېره ښه پرېکړه کوئ او ډېر عوايد لاسته راوړئ .

## دیارلسم قانون : تېزوالي قانون

هر څومره چې د مالي خپلواکۍ په لور حرکت وکړئ مالي خپلواکي هم ستاسو په لور له تاسو تېز حرکت کویمعمولاً د خپل مالي حالت د تغیر لپاره ډېرو خت ته اړتیا ده چې تغیر په کې راشي او خپل پخواني حرکت په سختۍ سره ترك کړئ.د مرګ په څېر ډېر سخت ویاو هېڅ وخت ناممکن نه ګڼل کېږي چې عادت ډېر ژر پرېږدئ او کولای شو ډېر مثالونه راوړو.

لومړۍ پایله : هیڅ شی د بریالیتوب په څېر بریالی نه دی .

دویمه پایله : ستاسو اتیا سلنه بریالیتوب شل سلنه وخت دی چې په فکر مو کارولی دی.

دا قانون راښيي چې د سیاستوال لپاره د پیسودمسایلو په اړه فکر کول د سیاستوال له اصلي دندو څخه شمېرل کېږي.سیاستوال باید د نورو مشورو ته منتظر پاتې نه شي.هغه کولای شي ښې منطقي د حل لارې پیدا کړي د سیاستوال لپاره غیر ممکن عمل په سیاست کې د ملي کفر په مانا دی.

څنګه کولای شو له دې قانون څخه ګټه واخلو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف –دا اصل د کاغذ پر مخ ځانته ثابت کړئپه دبرش ورځو کې یوه افغانۍ دوه برابره کړئ.په لومړۍ ورځ شاید یوه افغانۍ ولرئ،دویمه ورځ دوه افغانۍ ،دریمه ورځ څلور افغانۍ ،بله ورځ اته ،همداسې شپاړس،بیا دوه دیرش او نور .دبرشمه ورځ تاسو شاید څو ملیونه افغانۍ ولرئ.په نهه ویشتمه ورځ شاید تاسو د دبرشمې ورځي نیم مبلغ ولرئهیڅ وخت تېروتنه ونکړئپانګه ډېر ژر له پانګونې ونه باسئاو پرېږدې چې خپل ډېربښت وکړي .

ب –هغه برخې وپېژنئ او په نښه یې کړئچې ډېر وخت او انرژي مو پرې لګولي وي،بې له دې چې د پام وړ پایله تر لاسه کړئ . د هر یوه په اړه  ښه مطالعه وکړئشاید دسقوط په څوکه ولاړ یاست.

د دې قاعدې پر اساس د پیسو سیاستوال خپل کاري پروګرام  پیلوي، خو تېرې تېروتنې ترې لرې کوي،فکر کوم  دهغه لپاره به داکافي ویځو کړنې بې له تېروتنې ترسره کړي او دا قاعده په همدې امر متکي ده.په دې قاعده کې د نه تطبیق سببونه او  وخت په وخت په تېرو سیاستونو فکر کوي او د هغه دلرې کولو لپاره  هلې ځلې  کوي .

# څلورم څپرکی

# د پیسو د سیاست وسایل

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې بحث کې غواړم د لاندې مسایلو په اړه بحث وکړم :

۱- د ازاد بازار سیاست یا د مارکېټ سیاست
۲- د زېرمو سیاست
۳- اسعاري سیاست
۴- د تنزیل او بیا تنزیل سیاست
۵- د ارزښتناکو اسنادو د رهني(ګروی) سیاست

لومړی برخه

## د ازاد بازار یا د مارکېټ سیاست

د ازاد بازار سیاست د پیسو د سیاست په چوکاټ کې ډېر ګټور سیاست دی چې د دولت له لوري د مرکزي بانک په وسیله په دوامداره نه، بلکې په ځانګړو وختونواو مسلسله توګه تر سره کیږي په ډېرو وختونو کې داسیاست لنډ مهال وي چې دبانك د اوږدمهالو سیاستونو په چوکاټ کې ترسره کېږي.له دې وړاندې چې په دې مسئله بحث وکړم د دې مسئلې په تعریف بحث کوم ځکه د یوې موضوع څخه ښه تعریف د موضوع ځانګړتیاوې بیانوي.زه فکر کوم چې که دې موضوع ته تعریف وکړو، نو دارنګه به وي:د ازاد بازار سیاست عبارت له یو شمېرتولیزو تدابیرو او اقداماتو څخه چې په معقولو لارو د پیسو د نظم د ساتلو په موخه د مرکزي بانك د مخامخ او نامخامخ ډول د دپانو د خرڅلاو او یا د پانو،د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پور دولتي او خزانې اسنادو دوباره اخیستل ځو مطلوب حالت رامنځته شي دې ډول سیاست ته د ازاد بازار سیاست وایي.

الف – د دې سیاست موخه : مرکزي بانك دا سیاست هغه وخت كاروي ځو پیسې له نامطلوب حالت څخه وژغوري او بېرته د سیاستوال په خوښه حالت رامنځته كړي او یا اوسنی حالت چې د سیاستوال له لوري مطلوب وي وساتي.

ب –د سیاست د ترسره كولو وسایل :

- د پور دولتي پاڼې
- د خزانې دولتي پاڼې

د سیاست د كړنو ډول : په دې ډول سیاست كې د مركزي بانك كړنه لنډ مهاله وي،په داسې حال كې چې دا كړنې د پیسو د سیاست په چوكاټ طبقه بندي او ځانګړی ځای لري.كولای شو چې ووایو د ازاد بازار عملیات د مركزي بانك له خوا تكتیكي دي چې د نهایي موخې د ترلاسه كولو لپاره ترسره كېږي چې په بانكي او دپیسو په ستراتیژۍ كې ځای لري.كله چې دولت په بازار كې مالي ناامني احساس كړي په دې صورت كې دولت د مركزي بانك په وسیله غواړي چې د بازار وضعې ته بدلون وركړي، دا كار په بازار كې د پیسو حجم ته چې په دوران كې دی تغیر وركوي او دا تغیر د ارزښت لرونكو سندونو په عرضې او تقاضا تر سره كوي .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حرکات څنګه تنظیمېږي ؟

د پیسو سیاست جوړونکي دا حرکات په دوه برخو وېشي ؟

i. د پیسو پراختیایي سیاستونه : کله چې دولت احساس کړي چې په بازار کې د پیسو مقدار لږ دی او بدې اقتصادي اغېزې لري .په دې وخت کې دولت هڅه کوي څو په بازار کې د پیسو مقدار ډېر کړي .
دولت څنګه کولای شي چې دا کار ترسره کړي او کومې موخې تعقیب کړي ؟
الف –د بازار د اړتیا مطابق د پیسو په مقدار کې زیاتوالی
ب – د پیسو د اغېزو ډېربنت او په غیر پیسیزو(پولي) ځایونو کې اغېزه اچول

الف – د بازار د اړتیا مطابق د پیسو په مقدار کې زیاتوالی: دولت د مرکزي بانك په وسیله د پراختیایي سیاست په کار اچولو سره ارزښتناك اسناد پېري چې په بازار کې په متناسبه اندازه د پیسو په حجم کې زیاتوالی راشي . له دې کړنې څخه په اوس او تېره سلیزه کې ډېر هېوادونه کار اخلي، بلکې دا یوه معموله کړنه ګڼل کېږي.د دې کړنې عملي کول لاندې شرایط لري :

- د یو ښه بانکي سیستم شتون
- د ارزښت لرونکو اسنادو د اخیستلو او خرڅولو دودول
- په دولت او بانکي سیستم د باور د اصل شتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوازې د پیسو په ډېرښت بحث کوو، نو همدا عمل تر ټولو بهترین عمل دی د پیسو سیاستوال په دې برخه کې یوه بله موخه هم تعقیبوي چې هغه ددې عمل اغېزې دي .

ب – د پیسو دډېرښت اغېزې او په غیرپیسیزو(پولي) برخو کې اغېزه

د پیسو د اغېزو ډېرښت د پراختیایي سیاست ډېره مهمه برخه ګڼل کېږي او مثبتې اغېزې په اقتصاد واردوي د پیسو د حجم د ډېرښت له کبله کمیتي اغېزې د دې سیاست څرګندېږي او د ارزښت لرونکو سندونو خاوندان د دې سندونو د خرڅلاو له لارې پیسې لاسته راوړي،یا یې په لګښت رسوي او یا یې په بانکونو کې په جاري حسابونو کې جمع کوي چې دغه حسابات په خپله د باور او کریډت سرچینه ده.د کریډټ د ډېریدو په صورت کې پانګونې ته لاره هوارېږي. د پانګونې په ډېرښت سره تولید ډېرېږي او دیو بل اقتصادي حرکت سبب ګرځي .چې په غیر پیسیزو(پولي) ځایونو کې هم پېښېږي:

- د پانګونې ډېرښت
- د تولیداتو ډېرښت
- د استخدام د سطحې لوړوالی
- د اسمي عوایدو ډېرښت په لومړیو کې او بیا وروسته د حقیقي عوایدو ډېرښت

ii. د پیسو محدود سیاستونه : په دې برخه کې د پورتنۍ موضوع عکس تر مطالعې لاندې نیسو .

www.meliahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې سیاست تګلاره : په دې میتود کې دولت د مرکزي بانک په وسیله ارزښت لرونکي سندونه پلوري او د پیسو اضافي مقدار د پیسو د سیاستوال په خوښه له بازار څخه راټولوي.

کله چې مرکز بانک ارزښت لرونکي سندونه بازار ته وړاندې کړي،نو اقتصادي واحدونه یې د رانیولو لپاره اقدام کوي او هغه پېري. ددې عمل د ترسره کولو لپاره اقتصادي واحدونه له بانکونو خپلې سپماوې او معاملات خلاصوي له بانك څخه د پیسو په وتلو سره د هغوی کریدیټي ځواك کمېږي او د پیسو د پړسوب ضدخصوصیات خپلوي .کولای شو چې پورتني ټکي په لاندې ډول ووایو :

- ارزښت لرونکي سندونه د دولت له خوا بازارته د خرڅلاو په موخه وړاندې کېږي.
- اقتصادي واحدونه د سندونو د اخیستلو لپاره له بانکونو خپلې پیسې راوباسي.
- کله چې اقتصادي واحدونه له بانك څخه پیسې راوباسي د هغوی د پور یا کریدت دورکولو ځواك کمېږي.
- دولت د ارزښت لرونکو سندونو د خرڅلاو له لارې لاسته راغلې پیسې راټولوي.
- د متناسبو پیسو د مقدار عرضه او د پیسو د مقدار کمښت ددې سیاست په وسیله ترسره کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د تقاضا د کمښت له کبله د پیسو د مقدار په نسبت که چېرې نور عوامل ثابت پاتې شي، قیمتونه نزولي لار نیسي .

دویمه برخه

## د زېرمو سیاست

**موخه** :د استقرار او مطلوب حالت رامنځه کول .

په اوسني وخت کې د زېرمو رامنځته کول او ګټه ترې پورته کول د پیسو د سیاست یو له مهمو وسایلو څخه ګڼل کېږي.په ځانګړې توګه په اوسنۍ پېړۍ کې چې د یو هېواد شتون او نه شتون په همدې موضوع پورې تړلی دی.د نړۍ په ټولو قوانینو کې په دې مسئله تاکید د قانون له ښکاره موادو څخه شمېرل کېږي .ددې مطلب د شتون اساسي سبب د افرادو د حقوقو څخه ننګه ده چې د یو دولت د جوړېدو سبب ګرځي چې په دې مورد کې د سپماوو څخه د ننګې په ډول ترسره کېږي .

۱- کومې زېرمې د پیسو د سیاست د وسیلې په توګه کارول کېږي ؟ په دې برخه کې موږ له دوه ډوله زېرمو ګټه اخلو :

- ♣ قانوني زېرمې
- ♣ اختیاري زېرمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- له دې زېرمو د ګټې اخیستنې موخه : په اقتصادکېد اغېزو رامنځته کول ، د پیسو په مقدار کې ګټور تغیر راوستل او په اخر کې د قیمتونو او اقتصادي حالتو کنټرول .

۳- د دې وسیلې د عملي کېدو لار :

الف – قانوني زېرمې:قانوني زېرمې بانکونه د قانون پر اساس په دې مکلف کړي تر څو د افرادو د حقوقو د ننګې په موخه د خپلې پانګې یو مقدار له بانکونو او یا هغو موسیساتوسره چې قانون روښانه کړي وساتي. د دې زېرمو مقدار مرکزي بانک د هېواد اقتصادي ودې او پرمختك په نظر کې نیولو سره ټاکي ځیني وختونه مرکزي بانك او اقتصادي واحدونه چې ددې زېرمو په شتون قانون مکلف کړي، ترمنځ ستونزې هم رامنځته کېږي . بانکونه په دې اړه تل داسې فکر کوي که دبانکونو قانوني زېرمې کمې وي په هماغه اندازه بانك ځواکمن وي چې له فرصتي لګښتونو څخه ځان خلاص کړي او د بانك ګټه چې د بانك د جوړېدو اساسي موخه ده تر لاسه کړي،نو له دې کبله هغوی هڅه کوي تر څو د دغو زېرمو مقدار کم کړي.کولای شو چې د امریکا او بانکونو ترمنځ اختلاف د قانوني زېرمو له کبله مطالعه کړو.

- د حرکت پیغامونه : بانك د مرکزي بانك د صلاحیت په وسیله په بازار کې د پیسو مقدار ته تغیر ورکوي او د قانون له حکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره سم یې د بانکونو له خزانو څخه یېدمرکزي بانك خزانې ته لیږدوي.کولای شو دلته دوه ډوله حرکته وګورو:

- په هغه صورت کې چې دولت پوه شي چې په بازار کې کافي پیسې شتون لري د قانوني زیرمو مقدار لوړ ټاکي .
- په هغه صورت کې چې دولت پوه شي چې په بازار کې ډېرو پیسو ته اړتیا ده،دولت له دې زېرموګټه پورته کوي او بازار ته یې وړاندې کوي،خو دا عمل هغه وخت ترسره کېږي،تر څو چې د مسوولو مقاماتو اجازه شتون ولري په ډېرو هېوادونو کې د دې حد ټاکل په ولسي جرګې پورې اړه لري خو په ځینو هېوادونو کې دا حق مرکزي بانك لري .سوداګریز بانکونه وایي د دې ډول زېرمو رامنځته کول لګښتونه لوړوي او بانکونه له زیان سره مخامخوي،چې په دې برخه کې مرکزي بانك ته په قناعت ورکولو سره دا عمل ترسره کړي .

ب – اختیاري زېرمې:د اختیاري زېرمو بنسټ نغدوالی جوړوي دا په دې مانا چې بانك کولای شي چې په ټولو حالتونو کې خپل نقدوالی وساتي او د مشتري په وړاندې چمتو وي .مشتري ته د غوښتنې پر وخت د پیسو ورکړه د بانك ،نغدوالی او بانکي سیستم جوړوي چې دا کار د بانك له خوا ډېر جدي تعقیبېږي .بانکونه په دې اړه د ډېرو پیسو ساتلو لپاره لېواله نه دي او تل هڅه کوي خو خپلې پیسې په کاروبار ولګوي او ډېره ګټه تر لاسه کړي. په ځینو وختونو کې بانکونه د ډېرې ګټې د لاسته راوړلو لپاره د خلکو امانت له ګواښه ډك ځای کې کاروي او ډېر خطر لري کېدی شي چې امانات هم ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیامن شي .دولت د دې کار د مخنیوي یا کنټرول لپاره له دې زیرمو ګټه پورته کوي او د ګواښ درجه کموي .

۱- څنګه ترسره کیږي ؟

الف –دولت که فکر وکړي چې  په بازار کې کافي اندازه پیسې شتون نه لري .په دې برخه کې دولت یا مرکزي بانك هڅه کوي تر څو اختیاري زیرمې کمې او پیسې په بازار کې دود کړي .په دې صورت کې دولت بانکونه  هڅوي او بانکونو ته اجازه ورکوي څو بازار ته ډیرې پیسې وړاندې کړي او داجباري پیسو ځخه یې لرې وساتي .

د پیسو د  حرکت پیغامونه : په دې حالت کې بانکونه  هڅول کیږي تر څو د کریډټ ډیرې اسانتیاوې برابرې کړي او پانګوالو ته د پورونو ښه شرایط برابر کړي ، دا حالت د دې وړ وي چې په هېواد کې پانګونه ډیره شي ،تولید ورسره ډیریږي او ورسره د استخدام سطحه هم لوړیږي ورسره تقاضا لوړیږي او د قیمتونو نامناسب نزولي سیر اصلاح کړي او قیمتونه مطلوب حالت ته وګرځوي .

ب –که دولت او مرکزي بانك په دې عقیده وي چې په بازارکې په کافي اندازه پیسې شتون لري او د اوسني حالت ساتل د اقتصاد لپاره ډیر ګټور دیپه دې وخت کې په اختیاري زیرمو کنټرول ډیر جدي ترسره کیږي او هررنګه  عمل چې دا حالت تهدیدوي مخنیوی یې کوي .

www.heltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج –کله چې دولت او مرکزي بانك په دې پوه شي چې په بازار کې پیسې له اړتیا ډېرې شتون لري او باید اضافي پیسې له بازار څخه وویستل شي او عادي حالت ته راوګرځي،په دې وخت کې دولت هڅه کوي څوپه بانکونو کې د پیسو ډېر مقدار د اختیاري زېرمو په نامه د بانك په لاربښوونه وساتي چې په دې وخت کې کریدټي پالیسي تغیر کوي او د کریدټونو اجرا نزولي لار نیسي ،پانګونې کمېږي بانکونه په مخامخ پانګونو کې ډېر په احتیاط عمل ترسره کوي .

دریمه برخه

## اسعاري سیاست

موخه : د پیسو د بهرني ارزښت او استقرارساتل

دا سیاست د پیسو د بهرني ارزښت د ساتلو په موخه تر سره کېږي او کولای شوچې داسې یې تعریف کړو : هغه ټولیز تدابیر چې د پیسو د مطلوب بهرني ارزښت د ساتلو لپاره په یو ټاکلي وخت کې تر سره کېږي،د اسعاري سیاست په نامه یادېږي . له تعریف څخه څرګندېږي چې د هېواد د پیسو یو واحد د بهرنیو پیسو یا توکو پر وړاندې څومره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو هېواد د پیسو بهرنی ارزښت د هېوادد تادیاتو د بېلانس په حالت پورې اړه لري د تادیاتو بېلانس پوهان داسې تعریفوي : د یو هېواد ټولې اقتصادي راکړې ورکړې د نړۍ له نورو هېوادونو سره چې په یو ټاکلي وخت (یو کال ) کې یې ترسره کوي دتادیاتو د بیلانس په نامه یادیږي.د هېواد د تادیاتو د بېلانس کسر او مازاد د هېواد د پیسو پر بهرني ارزښت اغېزه لري .

۱- د کړنو لاړ

الف –د تادیاتو د بېلانس د کسر په وخت : په دې وخت کې د پیسو بهرنۍ ارزښت کم وي خو که دا کار دوام پیدا کړي نو ډېر بد حالت اختیار وي او مخنیوی یې هم ډېر سخت وي .

- د کورنیو پیسود ارزښت کمښت د بهرنیو پیسو پر وړاندې (اسعار ) : په دې وخت کې اسعاروته تقاضا ډېرېږي دا په دې ماناچې د تادیاتو د بېلانس د کسر د مخنیوي په موخه اسعارو ته تقاضا دکورنیو پیسو ارزښت د اسعارو پر وړاندې کموي برعکس د اسعارو ارزښت لوړېږي،نو دلته د مرکزي بانك یوه ښکاره او مهمه دنده دا ده چې داسې تدابیرونیسي،تر څو د کورنیو پیسو ارزښت وساتي او یا مطلوب حالت منځته راوړي.

د اسعارو ارزښت ( لوړېدل او ټیټېدل ) په دوه عواملو پورې اړه لري:
کورنۍ تقاضا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسعارو د ورود امكانات

ب –د تادياتو د بېلانس د مازاد په وخت : په دې وخت كې اسعارو ته تقاضا كمېږي،خو كله چې دا كمښت ډېروي د مركزي بانك لپاره ډېره مهمه او د بحث وړ وي،ځكه په ځينو وختونو كې د دې باوجود چې د تادياتو د بېلانس مازاد هم وي د پوهانو په وينا مطلوب حالت نه وي او دهغوى دا غوښتنه وي تر څو ددې حالت مخنيوى وكړي او كه په خفيف حالت ترسره شي د بانك له نظره د تشويش وړنه وي او حتا په تقويت كې ترې كار اخيستل كيږي.

١- د عمل لار :

الف – اسعارو ته تقاضا كمېږي

ب –اسعارو ته د تقاضا كمښت په دې مانا دى، چې د هغوى د ارزښت كمښت دى

ج –په دې حالت كې بېلانس مثبت حالت لري په دې مانا چې د اسعارو ورود نسبت خروج ته ډېر وي .

خلورمه برخه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تنزیل او بیا تنزیل سیاست

کولای شو چې تنزیل ته بېلابېل تعریفونه وړاندې کړو :

تنزیل هغه مبلغ دی چې د پور یا برات د ژر ورکړې په نسبت اخیستل کېږي .هغه مبلغ چې د یو وجهي سوداګریز سند له حجت او دې ته ورته اسناد څخه د ټاکلې نېټې وړاندې په نغده بدل کړي اخیستل کېږي .دبازار او وجهي قیمت تر منځ توپیر په هغه صورت کې چې وجهي قیمت یې لوړ وي .د تنزیل له سیاست څخه موخه عبارت له هغو تدابیرو او اقداماتو چې سوداګریز بانکونه د پیسو د معاملاتو د ښه تنظیم په موخه د بیا تنزیل په نرخ کې لازم تغیرات اوسکونتواردوي .ولې بیا تنزیل د مرکزي بانکونو له خوا د پیسو د سراسري نظم د ساتلو او د تنزیل په نرخ کې بیا تغیر د دې په موخه چې د پیسو د ډېروالي او یا کموالي موخه نیول کېږي. هر ډول تنزیل ته دوه شرطونه اړین دي :

۱) تنزیل باید له یو سوداګریزې کړنې څخه وي ځکه که دا کړنې سوداګریزې نه وي، نو کېدی شي چې سوداګر بل سوداګر ته یو سند د ارزښت لرونکي سند په نامه ورکړي بې له دې چې د هغه پر وړاندې توکي تبادله شي د دې ډول سند تنزیل په وخت کې د بانك له خوا دا عمل په دې مانا چې پیسې بازارته داخلې شوېدي بې له دې د توکو په مقدار کې تغیر راشي چې دا په خپله د پیسو پړسوب ته لمن وهل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲) د تنزیل عمل باید ډېر اوږد نه وي ځکه تنزیل د لنډمهالو سرچینو څخه تمویلیږي او لنډ مهال اعتبارات معمولاً نوي ورځې وي .

د دې سیاست موخه : د پیسو د پراختیايي او محدود سیاستونو عملي کول د مرکزي بانك له اړخه څو د پیسو حالت تر کنټرول لاندې راولي د پیسود مسوولینو د وړاندوینې پر اساس . د ا ډول سیاستونه په لاندې ډول عملي کېږي :

I. تنزیل :

الف –سوداګریز بانکونه د پیسو د دود په موخه دې ته حاضرېږي چې د ښه نرخ د کمښت عمل تر سره کړي .

ب –موسیسات او حقوقي اشخاص ،خپل ارزښت لرونکي اسناد بانکونو ته وړي او هغه له بانکونو سره په یو ټاکلي نرخ په نغده بدلوي.

ج –دا کړنه څنګه ترسره کېږي :

- ❖ بانکونه په دې مکلف دي څو ډېرې پیسې د پیسو په دوران کې شاملې کړي.
- ❖ سوداګریز بانکونه د تنزیل له لارې ډېرې پیسې لاسته راوړي .
- ❖ اسناد چې ددې عمل لاندې اجرا شوي په سوداګریزو بانکونو کې د قابل حصول اسنادو په ټاکلي وخت کې او یا بیا تنزیل لپاره په بانك کې پاتې کېږي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د کمښت په وجه پیسې بازار ته عرضه کېږي او په بازار کې د پیسو مقدار ډېرېږي .

II. بیا تنزیل :

- د پیسو په بازار کې د پیسو د مقدار په ډېروالي سره پانګونه ډېرېږي .
- د پانګونې ډېرښت تولید لوړوي یا سیر یې صعودي بڼه اختیاروي
- د تولید د مقدار ډېروالی،پانګوال ډېر خلك استخداموي .
- دا امر په خپله تقاضا کوونکو ته اسمي عاید جوړوي.

په دې سیاست کې مرکزي بانك په دې لټه کې وي،څو په دې وسیله خپل پراختیایي او محدود سیاست تر سره کړي مرکزي بانك غواړي دواړه سیاستونه پراختیایي او محدود، د تنزیل څخه ګټه پورته کړي، .چې دلته دواړه تر څېړنې لاندې نیسو:

الف –د بیا تنزیل پراختیایي سیاست :د بانك سیاستوال دا درك کړي چې د پیسو مقدار په دوران کې ټاکل شوې موخې نشي تر لاسه کولی او باید په بازار کې د پیسو مقدار ډېر شي د پیسو سیاستوال د بیا تنزیل د سیاست څخه په ګټې اخستنېد ارزښتناکو اسناد په نغدو د تبدیلېدو زمینه برابروي،په دې صورت کې بانك د بیا تنزیل نرخ کموي په همدې ترتیب هغه بانکونه چې ارزښت لرونکي سندونه لري هغوی هڅوي تر څو خپلې پانې په مرکزي بانك کې په مناسب نرخ چې ګټه لرونکي وي تنزیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي .بانکونه د ارزښت لرونکي اسنادو څخه ډېره ګټه لاسته راوړي د پانګونې او کریډټ زمینه بانك ته برابرېږي .

د دې سیاست تر سره کول :

- ❖ دا سیاستونه بانکونه د ارزښتناکو اسنادو له ساتلو لرې ساتي
- ❖ سوداګریزو بانکونو ته د کریدټ او پانګونې زمینې برابرېږي.
- ❖ سوداګریز بانکونه هڅول کېږي چې د تنزیل په عملیه کې اخلاقي ګام پورته کړي
- ❖ د پیسو بازار د سیاستوالو د موخو مطابق په حرکت کې وي
- ❖ د پیسو د عرضې خلا تر یو حده بهبود پیدا کوي
- ❖ اقتصاد د مستهلك له ګوتو باسي او داسې اقتصاد رامنځته کوي چې د مستهلك او مولد دواړو په کې ګټه وي .

ب –د بیا تنزیل محدود سیاستونه : د دې سیاست په مرسته مرکزي بانك غواړي د پیسو په بازار کې د ډېرو پیسو له ورود څخه مخنیوی وکړي د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره مرکزي بانك د تنزیل نرخ لوړوي ، دا کار ددې سبب کېږي چې بانکونه خپل ارزښت لرونکي سندونه له ځانه سره وساتي تر څو پانې په لوړ نرخ چې کمه ګټه هغوی ترلاسه کوي تبادلې ته کېني .د دې سیاست په وسیله مرکزي بانك کولای شي په اسانۍ د پیسو بې موقع ډېرښت په بازار کې وویني .

د دې سیاست پایلې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ا عمل د ډېرو پیسو مخنیوی کوي څو بازار ته داخلې نه شي .
- په بازار کې د اخیستو قدرت کموي او یا یې د تېر په څېر ساتي
- د کریډټ د پراخه اجرا مخه نیسي
- پانګونې په خپل حال پاتې کېږي یا نزولي سیر نیسي
- په سوداګریزو بانکونو کې د تنزیل نرخ د لوړوالي هڅې کوي
- د پیسو د پړسوب د ضد سیاستونه تقویه کوي
- د پیسو د کورني ارزښت د لوړېدو لار تعقبوي

www.melitahrik.com 0777 400 116

پنځمه برخه

## د ارزښت لرونکو سندونو د رهني (ګروي )سیاست

د تضمین او یا ارزښت لرونکي سندونه په رهن(ګرو) ایښودلو سیاست د نورو سیاستونو تر څنګ د هغو سیاستونو له ډلې څخه دی چې د پیسو د جریان د کنټرول په موخه د پیسو د سیاستوالو له خوا نیول کېږي .دا ډول سیاست په لاندې ډول عملي کېږي :

معاملاتي بانکونه د نغدو پیسو او د پیسو د امکاناتو د لاسته راوړلو لپاره خپل ارزښت لرونکي سندونه له مرکزي بانك سره په رهن (ګرو) ږدي .او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکزي بانك د پراختیایي او محدود سیاست په وسیله د خپل بانك میتود د دې حرکت پر وړاندې تنظیموي .په هغه صورت کې چې مرکزي بانك په دې پوه شي چې په بازار کې د پیسو مقدار په کمېدو دی. بانکونه هڅوي تر څو ارزښت لرونکي سندونونه په نغده تبدیل کړي .دتضمین یا د پانو په رهن (ګرو) ایښودل او هغه لارې چې دا سیاست جوړوي ،کله کله بانکونه دتوکو او قیمتي کالیو په وسیله له مرکزي بانك څخه نغدې پیسې لاسته راوړي.د ارزښت لرونکو سندونو د تضمین د نرخ ربعه د بیا تنزیل په نظر په عمومي ډول لوړه ټاکل کېږي .

www.melitahrik.com 0777 400 116

دویمه برخه

## سامویلسن له نظره د پیسو د سیاست وسایل

"سامویلسن "مشهور اقتصاد پوه د پیسو د سیاست وسایل په درې برخو ویشلي دي :

١- د ازاد بازار عملیات
٢- د تنزیل سیاست
٣- د بانکونو د قانوني زېرمو په مقرارتو کې تغیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتني وسايلو په اړه مو کافي بحث وکړو دغه عالم د پيسو دسياست د نورو وسايلو په اړه نظريات ورکړي ديد هغه په نظر د پيسو د سياست کم اهميته وسايل چې د پيسو سياستوالو له خوا تر لاس لاندې نيول کيږي په لاندې ډول دي :

- اخلاقي تذکر
- د اعتباراتو کنټرول د خپريدو له لارې ټاکل
- د استقرار حد ټاکل
- د قسطي قراردادونو کنټرول
- د رهني قراردادونو کنټرول

غواړم په دې برخه کې پورتني مطالب په لنډه توګه تشريح کړم :

۱- اخلاقي ښونه : په دې صورت کې مرکزي بانك چې لاژم وګڼي د سوداګريزو بانکونو مديرانو ته اخلاقي تذکر کوي. مرکزي بانك د سوداګريزو بانکونو مشران بانك ته راغواړي او اخلاقي درس ورکوي او هغوی ته ولنيز او اخلاقي مسوولیتونو ته متوجه کوي او ځينې وخت د اعتباراتو د محدودولو په موخه هغوی تهديدوي .په ډيرو مواردو کې د هغه بانکونو کړني چې مرکزي بانك ته د باور وړ نه وي هغه ته د نظارت ټيم ټاکي .ډير اقتصاد پوهان ويره لري چې دا تهديدونه نه شي کولای د احترام په نظر کې نيولو يو له بل سره ګټورې سيالۍ وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د اعتباراتو کنټرول دخپرېدو له لارې : موږ کولی شو چې اعتبارات له دوه لارو تر کنټرول لاندې راولو :

- د کمیت له نظره : په دې برخه کې کنټرول او څارنه د ټول ملي اقتصاد له نظره مطرح ده او د اعتباراتو ټول حجم د پیسو د سیاستوالوله خوا مطالعه او ارزیابي کېږي او د هغې په وسیله د بانکونو د زېرمو حجم ټاکل کېږي .
- د کیفیت له نظره : د اعتباراتو کیفي کنټرول د خپرېدو له نظره ټاکل کېږي هغه ټول هېوادونه چې د پرمختګ ښه لار یې پیدا کړیاو هغه پلانونه چې جوړ کړي او په کټور شکل یې اقتصادي څرخونو ته حرکت ورکړی د خپرېدو په وسیله د اعتباراتو کنټرول ډېر اهمیت لري .په حقیقت کې دولتونه هڅه کوي تر څو اعتباراتوته په هغې لور حرکت ورکړي چې دولت له خوا مخکې ټاکل شوې موخې تر لاسه کړي او دا کار هغه وخت شونی دی چې د سکتورنو لومړیتوب یا سیمه ییز او هغه لومړیتوبونه چې حکومت او پانګوالو ټاکلي وي او د اعتباراتو ډېرښت د هېواد د پیسو د سیاست یو برخه وي . هغه هېوادونه لکه انګلستان چې څو محدود لوی بانکونه لري د مالیې وزیر کولای شي د بانك مشران احضار کړي او هغوی ته ووایي : هیله مندیم چې پاملرنه وکړئحکومت دې ته مایل دی چې تاسو ډېرپورونه برابر کړئ،ددې لپاره چې صادراتي صنایع ته ډېرې اسانتیاوې برابرې کړئهمدارنګه د اړتیا وړ توکو ورود .همداسې تر اختر وړاندې پورونه لس په سلو کې کم کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د پورونو حد ټاکل : دا وسیله په دې پورې اړه لري چې مرکزي بانك ځومره صلاحیت لري او د پیسو سیاستوال ځومره خلاص لاس لري تر ځو د پیسو سیاست د ښو وسایلو په توګه وکاروي دا وسیله چې د پور د ټاکلو وسیله ده،د مرکزي بانك د صلاحیت لرلو له کبله د پیسو سیاستوالوته دا اجازه ورکوي څود پیسو د عرضې مقدار او یا د اعتبار حد ټاکل او د پیسو د جریان لپاره د پور دتنظیم اقدام وکړي . هغه هېوادونوچې د بازار له اقتصادي نظام څخه پیروي کوي د دې کار اجازه نلري .ولې د ناورین په حالت کې دولت په ښې طریقې سره مداخله کوي . په دې وخت کې د بازار نظام ،قانون ډېر اهمیت نلري په امریکا کې مرکزي بانك داحق لري چې دا حد وټاکي،یانې هر ځوك کولای شي چې د ونډو د اخیستلو لپاره په کوم نسبت پور واخلي:د مثال په ډول په متمادي کلونو کې یو شخص د ونډې د اخیستلو لپاره کولی شي چې اویا سلنه په خپل لاس کې ولري او باقي کولی شي له بانك څخه پور واخلي .

۴- د قسطي قراردادنو کنټرول : دا وسیله دا موضوع روښانوي چې په مرکزي بانك کې د پیسو سیاستوال دا صلاحیت لري چې د اقساطي معاملاتو حدود وټاکي د ساري په ډول د امریکا او کوریا په جنګ کې د امریکا مرکزي بانك دا وټاکل که ځوك یو موټر او یو کور اخلي شخص باید یو مقدار نغدې ورکړي او که نور توکي اخلي باید خپل لومړی اعتبار تصفیه کړي . دې مقررې د ډبلیو نوم واخیست چې وروسته په نورو اروپایي او اسیایيهېوادونو کې تطبیق شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵-** د رهني قرار دادونو کنټرول : په دې مورد کې دولت مرکزي بانک ته صلاحيت ورکوي تر څو د قرار دادونو شرايط وټاکي او هغه مبلغ چې نغد ورکول کيږي او هغه چې پور ورکول کيږي استهلاک يې بايد معلوم شي .دا مقرره په لومړي ځل په امريکا کې رامنځته شو او د ايکس په نامه يادېږي . دا مقرره داسې عملي کېده،که مرکزي بانك د نغده مقدار په قرار دا د کې وخت ډېر کړي او د رهني معاملې وخت کم کړي د کور جوړوني کړنې کمېږي او که عکس يې عمل وکړي هڅول کيږي .مهرباني وکړئ په دې اړهد امريکا اخري ناورين مطالعه کړئ چې کولای شو دا مقرره ښه توضيح کړي ؟

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## د پیسو د سیاستونو دایره

الف –د پیسو سیاستونه د  سیاست د نورو برخو په څېر په خپل ځای ځانګړي شرایط لري  چې د عملي کېدو لپاره باید برابر شي د پالیسیو دایره هم  یو له هغو موضوعاتو څخه ده چې سیاستونو ته د حرکت په ورکولو کې په ځانګړې توګه د پیسو سیاست ته ډېره اړینه ده  چې دا دایره لاندې عناصر لري :


۱- د پلان ستراتیژي
۲- د پالیسۍ موخه
۳- د پالیسۍ تطبیق
۴- ستونزې او ډولونه یې
۵- د حل لارې
۶- کنټرول ،نظارت او ارزیابي

کولای شو داسې په تصویر کې وښایو :

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library






لکه څنګه مو چې په تېره برخه کې ذکر کړل موږ هیڅ وخت نه شوکولای چې له پالیسۍ خبرې وکړو څو چې ستراتیژي نه وي ځکه په ټولو برخو کې یا په ټولو پالیسیو کې د سیاست دایره ډېره مهمه ده . زما تل همدا دعوه وه که له سیاسته خبرې کوو،نو باید پلان ستراتیژي ولرو که نه د سیاست خبرې کول مانا نلري . یو شمېر تصمیمونه دي چې د مسوولینو له خوا نیول کېږي . د دې په څنګ کې کنټرول،ارزیابي او مانیټورنګ د پالیسیو مهه برخه جوړوي د ډېرو پالیسیو ناکامي هم نه مانیټورنګ کې دهچې نه تر سره کېږی په دې برخه کې چې ډېره مهمه نقطه ده دا تکراروم پالیسي باید عناصر ولري که نه پالیسي خپل ماهیت له لاسه ورکوي اوپه یو سلسله تصامیمو تبدیلېږي د دې عناصرو مهمه برخه پروګرامونه او ستراتیژي جوړوي او پالیسي باید دا عناصر ولري او که دا ونه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالیسي نه شمېرل کېږي.مخکې له دې چې له پالیسیو خبرې وکړو ولومړی باید پروګرامونه په کار واچوو .


ب – شپږ پي یا سکس پي : د نړۍ په ځینو معتبرو اسنادو کې د پالیسو دایره شپږ ګڼي چې هغه په مخفف ډول Six Ps یادوي :

| | |
|---|---|
| ستونزې | Problems |
| خلك او سیمې | People / palces |
| پروسه | process |
| لګښت | Price Tag |
| اسناد | paper |
| پروګرام او تګلار | Programs / performance |

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library






د ا شکل مې په لومړي ځل رسم کړو شاید ستونزې ولري خو فکر کوم چې سم دی او کولای شو کار پرې وکړو . په دې شکل کې تاسو وويني چې شپږ میتود ځنګه ستونزې پیلوي او ځنګه کولای شو پروګرام مخ ته یوسواو په دې جریان کې مسایل وڅیړو، د پیسو سیاستوال باید دا په نظر کې ونیسي. شپږ پي کیدای شي چې د پیسو دسیاستوالو لپاره ډېر ګټور وي ، چې په لاندې ډول یې تر څېړنې لاندې نیسو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- ستونزې : د دې میتود لومړی بحث پر ستونزو دی ځکه د هر سیاست لار د ستونزې حل دی په دې برخه کې د سیاستوال مهمه دنده د ستونزې تشخیص دی یا ستونزو ته دستونزو دلومړیتوب حق ورکول دي ځکه د ستونزې تشخیص د پیسود سیاستوال د پیل ټکی دی .

۲- خلك او سیمه : سیاستوال چې په دې پوه شو چې کومه ستونزه باید لومړی حل شي بیا پرېکړه کوي چې کومه کټګوري خلك او کومې سیمې تر خپل سیاست لاندې راولي او په کوم ډول تطبیق شي په کوم ځای او یا د کومو خلکو ترمنځ واقع ده چې باید حل شي ځکه که یو سیاست د یوې سیمې او خلکو لپاره ترسره کېږي .

۳- پروسس : په سیاستوالۍ کې د پروسې برخه ډېره اړینه ده او په دې اړه سیاستوال ډېرې هڅې کوي او د سیاستونو د حرکت لار په دې برخه کې تر څېړنې لاندې نیسي او کوم وخت یې چې ورته ټاکلی، ښه یې څاري کله چې د سیاست په تطبیق کې ستونزه پېښېږي دغه ستونزې د وخت له کبله وي چې له مخکې ټاکل شوېوي. ټول سیاستونه په ځانګړې توګه د پیسو سیاستونه ځانګړي وختونه په نښه کوي او په هماغه وخت کې سیاست تطبیقوي بې له دې سیاست نه عملي کېږي. منفي پایلې هم لري، په دې برخه کې باید وختونه پام کې ونیول شي.سیاستوال باید د خپل سیاست د وخت لپاره اقتصادي او سیاسي حالات په نظر کې ونیسي چې د پیسو کړنې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ترسره کېږي او داسې وخت وټاکي چې د وخت له غوښتنې سره سم تطبیق شي او د وخت سره ښه مقابله وکړي .

۴- لګښتونه : لګښتونه په دې برخه کې ډېر مهم دي شاید په دې برخه کې ډېرو لګښتونو ته اړتیا وي او د دې سبب شي چې سیاستونه په خپل ځای ښه تطبیق نه شي داسې ویل شوي چې د تمویل سرچینې او لګښتونه د یو سیاست په بریالیتوب او ناکامۍ کې اړینه ونډه لري .

۵- اسناد : له اسنادو څخه موخه ټول هغه اسناد دي، چې د سیاست لپاره کارول شوي وي او سیاست پرې ولاړ وي،ډېر مهم بلل کېږي.له غیرې باوریزو اسنادو څخه د سیاست په بریالیتوب کې ګټه نه شو پورته کولای نو ځکه په سیاست کې اسناد ډېر مهم دي .

۶- د پروګرام اجرا : په ټولو سیاستونو کې په ځانګړې توګه د پیسو په سیاست کې وخت چې سیاست باید په کې اجرا شي ډېر مهم ګڼل کېږي.د یو سیاست اجرا کول په دې مانا چې د سیاست پنځه سلنه کار مو اجرا کړی دی دا په دې مانا چې د یو ښه سیاست په اړه دپوهې نه شتون سیاست له ناکامۍ سره مخامخوي،نو له دې کبله سیاستوال باید لاندې ټکي په نظر کې ونیسي :

- د طرحه شویو سیاستونو د تطبیق لپاره د ښو او ګټورو میتودونو څخه کار اخیستل او دسیاست د اجرا لپاره د ښه وخت ټاکل .
- د تطبیق سیمه ټاکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د تطبیقونکي د ټاکلو برخه
- د طرحه شوي سیاست پر وړاندې حساسیتونه

د شیږ پي ماهیت : شیږ پي په حقیقت کې د یو سیاست ښه وسیله ده چې د یو سیاست ټول جزیات ښه بیان کړي دا میتود د تحلیل او پرمختګ لپاره ښه زمینه برابروي. د دې میتود په پایله کې د پیسو پالیسي او د پالیسیو دجزیاتو په اړه توضیح ښه ورکول کیږي . د شیږ پي له میتود څخه د ټولو برخو په تحلیل لکه : د پیسو ملي سیاستونه،سیمه ییز، حوزه یي او نړیوالوتحلیلونو کې ګټه پورته کړو همدارنګه د سکتوري او عملیاتي سیاستونو په جوړولو کې د دې میتود څخه کار واخلو، سره له دې چې د پیسو په سیاست جوړوني کې له دې میتود څخه کار اخیستل کیږید دې ترڅنګ په ټولنیزو ، سیاسي او اقتصادي برخو کې هم لویه اغیزه لري او د دې میتود په وسیله کولی شو چې د ټولنې ځانګړې برخه تر خپلې اغیزې لاندې راولو. شیږ پي کیدی شي چې له لاندې ستونزو سره مخ شي:

- کیدي شي چې پالیسي په سمه توګه نه وي فصل بندي شویځو په سمه توګه تر تحلیل لاندې ونیول شي .
- له هغو خلکو سره چې د پالیسیو سره اړیکه لري او په پالیسیو اغیزه لري سلا نه وي شوي.
- شاید هغه اسناد چې په پالیسیو کې کارول شوي ګونګ وي چې د پالیسیو په تطبیق کې ستونزې راپیدا کوي .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کېدی شي چې په سرچینو کې ستونزه شتون ولري چې دا سرچینې غیر واقعي او یا واقعي وي خو محدود وي .

په پایله کې داسې ویلای شو چې د دې میتود په وسیله کولای شو د یوې پالیسۍ ټولې برخې تر تحلیل او ارزیابۍ لاندې ونیسو . معلومه خبره ده چې په کوچنیو پالیسو کې تغیر دلویو سیاستونو له نظره کم ګوابښ لري .

اخرنۍ پوښتنه :

ایا ټول مسایل چې په دې اثر کې مطالعه شول د پیسو د سیاستونو له نظره بس ول ؟

ایا کولای شو چې د پیسو د سیاستونو په اړه نوي مسایل مطرح کړو ؟

که چېرته همداسې وي نو مهرباني وکړئ ولیکئ له خپلو ملګرو او هغه خلکو چې د پیسو له مسایلو سره سروکار لري شریك کړئ.زه باور لرم چې تاسو کولای شئ دا کار وکړئ کېدی شي چې په دې اړه نوې مسئله وي .

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخري خبره

د یو رب په ملګرتیا د دې لیکنې په اخر کې یم او ددې کتاب وروستیتکي لیکم.ددرسونو په پیل کې یوو،ملګرو ته زېرى لرم چې یو بل کتاب چې شاید له اشتباهاتو خالي نه وي ولې کېدی شي چې یوه لاز ښوونه وي ، بیا هم غواړم په خپلو پخوانیو خبرو تکیه وکړم پرېږدئ چې په دې هڅه کې شم چې خپلو شاګردانو او مینوالو ته مواد برابر کړم شاید دا مواد له اشتباهاتو ډك وي ولې په هیڅ صورت بیهوده نه دي او د هغو خلکو لپاره چې لیکل کوي د هغوی لپاره هڅونه وي ولې د لیکلو جرائت نلري او یا وخت نه پرېږدي چې د نورو په ملګرتیا دا کار ترسره کړي .

دې اثر چې په ژوند کې یې راته ډېرې ستونزې راپیدا کړې وې ومې لیکه شاید لومړی اثر وي چې رواني کشمکش کې مې ولیکه، دا اثر د خپلو تجربو او نورو ګټورو کتابونو څخه ولیکم،په هڅه کې شوم چې د خپلو تجربو څخه کار واخلم هغه خلك چې ورته اړتیا لري ورته ور وړاندې یې کړم .په دقیق ډول نه پوهېږم چې څومره مې موخه ترلاسه کړې ولې باور لرم چې تر خپل وس مې هڅه کړېده . هیله لرم هغه خلك چې ډېره وړتیا لري څو د دې اثر د موضوعاتو تکمیل وکړي او دملي بشپړتیا لپاره یو له بل سره ملتیا وکړي.
لوی رب پوهېږي چې رښتیا کوي،رښتیا وایي او په رښتیا عمل کوي .

پوهندوی سید مسعود

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخيستني

١- پل سامو ئلسن ، اقتصاد ، تهران ، ١٣٥٠
٢- ډاکتر ويم کو سترس ،اقتصاد و سیاست های پولی ،کابل ، ١٣٨٥
٣- سيد مسعود ، بانکدراي،کابل، ١٣٨٦
٤- سيد مسعود ، پول وکریډت،کابل ، ١٣٨٦
٥- راهبرد مالي،تهران
٦- Clark By : Hardeek,Frenail,Boeezwinkle,J,International Confefrence(١٥th ٢٠٠٤,Bankok,Thailand
٧- لکچر نوټ پوهاند حقايقي ، کابل،ساليان متمادي
٨- ورکشـــاپ پاليســـى ( ګـــروپ ادم ســـمت )، اداره امـــور رياســـت جمهوري،کابل ، ١٣٨٤
٩- کميسيون مستقل حقوق بشر ، مانول حقوق بشر ، کابل،١٣٨٣
١٠- وزارت عدليه،قانون بانکداري افغانستان ، کابل ،١٣٨٣
١١- غوثی عارف،قاموس اقتصاد ، کابل ،١٣٥٢
١٢- برايان تريس ، قانون های پول،تهران ،١٣٨٦

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library





# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (عبدالرزاق رافت) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له ژباړن او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**